مورچل

ګوډاګۍ اردو دانحلال په درشل کې !

اسرائیل او هندوستان !

تبصره سیاسی

نهم کال، لومړۍ ګڼه، پرلپسې (۷۷) یمه، ربیع الاول (۱۴۳۶) هق، جنوري (۲۰۱۵) زګال

داسلامي مقدساتو په سپکاوي به دلویدیځ شوم اهداف پوره شي؟

غـوره حکایت

ثبات و امنیت گمشده بشریت

درسوالله ﷺ دمینې په اړه دحافظ امام ذهبی رح ...

هیوادنۍ مینه

د کندز د جهادي چارومسؤل ملا عبدالسلام بریالی له مورچل ...

نامتو مسلمان فاتحین

داسلامي تهذیب څوغوره بیلګې

امام أبو حنیفه رحمه الله دجرح او تعدیل دعلماوو ...

مورچل

اتم کال لسمه، پر لپسې (۲۴) یمه ګڼه،
ذوالحجه (۱۴۳۵هـ ق)، اکتوبر (۲۰۱۴) ز

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	ګوداګي، اردو دانحلال په درشل کې	۱
۲	اسرائیل او هندوستان	۳
۳	تبصره سیاسي	۶
۴	داسلامي مقدساتو سپکاوي به د لوبدیځ شوم اهداف..	۸
۵	غـــوره حکـــایت	۱۳
۶	د جهاد فقهي مسایل	۱۵
۷	ثبات و امنیت ګمشده بشریت	۱۸
۸	هیوادنې مینه	۲۲
۹	د کندز د جهادي چارومسؤل ملا عبدالسلام بریالي له مورچل سره	۲۵
۱۰	داسلامي تهذیب څوغوره بیلګې	۳۱
۱۱	د رسول الله دیني په اړه د حافظ امام الذهبي وینا	۳۲
۱۲	امام أبو حنیفه رحمه الله د جرح او تعدیل د علماوو	۳۳
۱۳	نامتو فاتحین	۴۴
۱۴	د مورچل دارالافتاء	۴۹
۱۵	جنګي جنایتونه	۵۱
۱۶	د دعوت، ارشاد، جلب او جذب کمیسیون	۵۳
۱۷	د امارت پیغامونه	۵۶
۱۸	د مورچل خبرونه	۵۷
۱۹		
۲۰		
۲۱		
۲۱		
۲۲		

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خپل، ایوب صافی،
حسن نروی، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي آدرس :

پته : کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

سرمقاله

ګوډاګی اردو دانحلال په درشل کې !

دکابل غلامه اردو چې دامریکایانو په مشری دلویدیځو جنرالانو په ګوتو متشکل شوي او دروزنې سربیره یې مالي لګښتونه او دانسجام چارې هم دامریکایي سلاکارانو په واک کې دي ،سربیره پردې داهدافو ټاکنه اونورې اړوندې چارې هم په بشپړ ډول ددوئ لخوا تنظیمیږي، خو ددې نه بله خطرناکه ربړه داده، چې ددې نام نهاده ملي اردو افسران ،صاحب منصبان او جنرالان په عمومي صورت زاړه کمونستان اودکمونیزم دفلسفې پیروان دي ،له بده مرغه هماغه څوک نن بیا دکابل داردو په کلیدي پوستونو ګمارل شوي ،چې له کبله یې نېیراز افغانستان په ویرانه بدل اواوس هم ددوئ دجبر او ظلم له وجه لکونه افغانان دپردیسي او مهاجرت په ټاتوبي کې دکیږدیولاندې پراته دي.

نن بیا دهیواد دخپلواکي علمبردار مجاهداو طالب دخونکار کمونست افسر او خادیست رحم وکرم ته موکل دی او داستنطاق اوزندان چارې یې، همدې خونکارو اسلام دښمنو ته محول شوي دي ،دنړیوالو نورمونو خلاف دکابل ملي اردو کې دغل ،شوکمار، په اخلاقي فساداتو مبتلا ، چرسي ، بنګي اود ټولنې ګرد استفراق شوي عناصر څیره شوي او همداسې نا اهلو او وطن پلورونکیو ته دیو سپیځلې هیواد برخلیک سپارل شوی ،چې نه شرعي کوایف احتواکوي او نه دوضعي او عرفي قوانینو ایجابیات !

د ګوډاګي اردو په جوړښت کې ،نه ديني هويت پام کې نيول شوی او نه قومي توازن او د اهليت او محاربوي وړتيا لور معيارونه ،بلکې له پيله پکې روزونکيو اشغالګرو جنرالانو همدا روحيه د جلب او جذب لپاره بس بللې، چې جهاد ته ترهګري او مجاهدا و دين پاله طالب ته د هشتګر ووايې ،او ديوځو ډالرو په بدل کې داسې دتيتو ظرفيتونو ناوړ کسان ديوې ملي اردو ! !په بن بست کې وګماري ،چې د اسلام او هيواد دګټو پرځای د اشغالګرو ګټو ته د اولويت او اوليت حق ورکړي او په ولسي قضايا ووکې خپله بې طرفي کاملا نشي ساتلای !

د کابل د غلامې اردو همدا تيټ او رالويدلې معيارونه او د کيف او کم همدا نا مناسب وجوهات ددې سبب شوي، چې ددې مصنوعي اردو د انحلال شيبې رالنډې شي او ترخپل تاکل شوي ميعاد نه مخکې متلاشي او منحل شي ،همدا اوس همداسې راپورونه لويځو رسنيو ورکړي ،چې د ۲۰۱۴ کال په ترڅ کې د کابل ملي اردو له ليکو څخه شاوخوا (۳۰۰۰۰)زره تنه عسکر تبنټېدلي دي. که ديوې خوا دا وجوهات ددې پرديپالې اردو د تيښتې لاملونه بلل کيږي، نو دبلې خوا د مجاهدينو زيات جنګي عمليات او محاربوي پرمختګونه هم ددې پيښو کې عمده لاملونه دي.

د کابل دارد و د تيښتې او انحلال خبره په دې وروستيو کې لويديځو رسنيو د امريکايي اطلاعاتي مرکزونو په حواله ورکړې دی، چې په ۲۰۱۴ کال کې زرګونه عسکر د کابل د ملي اردو له ليکو څخه تبنټېدلي دي ويل شوي، چې د کابل ملي اردو د عسکرو شمېر اوس يو لک ۲۵ زرو ته رابنکته شوی دی، په داسې حال کې چې د غه شمېره يو لک ۹۵ زره وه.

په د غه راپور کې د بهرنيو اشغالګرو د عمومي قومندان (جنرال جوزف اندرسن)له قوله ويل شوي، چې د ۲۰۱۴ کال تر اکتوبر مياشتې پورې د کابل ملي اردو ۲۰ سلنه منصبونه خالي پاتې وو ، چې دنومورې په خبره بايد ډک شوي وای. په راپور کې د (جوزف) له خولې راغلي، چې داخلي عسکر بې مهارته او بې ظرفيته دي، نومورې ويلي، چې د کابل د ملي اردو له ليکو د عسکرو تيښته او د غو ليکو ته د زياتو عسکرو نه راتلل ،دده په خبره يوه ستره ستونزه ده.

د افغانستان پرګنې چې غوڅ اکثريت يې د اسلامي اردو او لوړو ظرفيتونو باندې متشکله اردو غواړي ،د اوسنۍ ګوډاګي اردو څخه ددې تمه هيڅکله نه لري ،چې دا به يې د دين ،وطن ،ناموس او بالاخره د ځانونو ساتکونکی پوځ وي، بلکې دا اردو ورته د زړو کمونستو جنرالانو او غرب مشربه افسرانو دشتون په لامل يوه اجنبي او پردې پاله اردو ښکاري، او تمه لري چې عمر يې لنډ او ډيره ژر به منحل او ځای به يې يوه بې طرفه اسلامي اردو جوړه شي ! انشاءالله تعالی

خلیل.عزیز

اسرائیل او هندوستان !

په هندوستان کې د(نارندرامودی) واک په رسیدو ، تربل هروخت زیات د اسرائیلو او هند ترمنځ اړیکي تودي او مهم پراو ته رسیدلي ، تردې پورې چې دسیمې او چارو کارپوهان وایي ، دهند اوسنی رومبی وزیر هڅه کوي په نړیوال ډګر کې دفلسطین په ځای نور د اسرائیلو ملاتړ ته ترجیح ورکړي.

دهند اوسني صدراعظم له اسرائیلو سره خپله دوستي نه پټوي ، په دې ورستیو کې یې په خپلې شخصي ټویټر پاڼې کې اسرائیلي ولس ته دیهودانو د(انوار) په نامه دخوښۍ دورځې له املې په عبراني ژبه دمبارکي مراتب وړاندې کړي ، په داسې حال کې چې دیوه هیواد لوړ پوړی چارواکی کوم بل هیواد ته دمبارکی الفاظ او ټکي له خپلې رسمي ژبې پرته نه وړاندې کوي ، په مقابل کې د اسرائیلو صدراعظم نتانیاهو هم مودي ته دمننې ټکي په هندي ژبه کارولي.

دهاآرتص په نامه اسرائیلی ورځپاڼې په دې ورستیو کې دهغه هیواد دړومبي وزیر له قوله لیکلي چې دوی په اسیا کې له هند څخه بل نیږدي دوست او ملګری نلري ، همدغه دلیل دی چې اسرائیلو مناسبه بللي چې له هند سره داسې یو ستراتیژیک ټرون ولري چې عنوان یې د (اسلامي افراطیت او اسلامي بمب) ځپل دي.

هندی سرچینې وایی چې ددوی رومبی وزیر مودي چې کله په ګجرات کې په ۲۰۰۲ کې والي وو ،اسرائیلو ته یې ځوځله سفرونه کړي ، دمودي او اسرائیلو ترمنځ داړیکو پیل له هماغه وخته پیل شوي

د(نشنل انټريست) په يوه راپور کې چې دامريکا دبلفر دنړيوال مرکز دنامتو سياسي څيړونکي (جاييتا سرکار) په قلم ليکل شوی دا تکي راغلي: له اسرائيلو سره دهند رابطه له تيرو شپږو لسيزو راهيسي روانه ده، که څه هم تريو مودې، هند دفلسطين په موضوع کې اسرائيل ګرم بلل، خو دشوروي اتحاد له نړيدو ورسته، هند له اسراييلو سره داړيکو دتوديدو خواته تمايل پيدا کړ، ويل کيږي چې لدې وراندې پخوانی شوروي اتحاد دهندوستان دتسليحاتي اوپوځي اړتياوو دپوره کولو اوخريداری يواځينی هيواد اوبازار وو.

تيرکال دسپتامبر په مياشت کې داسرائيلو رومبي وزير نتانياهو او دهندو نوي صدراعظم (نارندا مودي) په نيويارک کې سره وليدل، دواړو لورو د۱۴۴ ميلونو ډالرو په ارزښت دباراک، په نامه دهغه توغندي دنورپيشرفت او عصري کولو باندې قرارداد لاسليک کړ چې دواړو هيوادونو په ګډه جوړ کړی او په بريالیتوب سره يې ازمايلی هم دی، نومورې توغندی چې اوس دهند دبحريه ځواک مربوط شميرل کيږي به بيړيو نصبيږي دUAVs په نامه دجنګي الوتکو دتوغندیو اونورو اړونده ګوابنونو په مقابل موثر رول لوبوي، ويل کيږی چې دنومورې توغندي دجوړولو لپاره هندوستان په ۲۰۰۲ کال له اسرائيلو سره د۱.۱ ميليارډالرو په ارزښت قرارداد لاسليک کړی وو، راپور وايي چې دنومورې توغندی نوره اوپاتی عصري برخه به تر۲۰۱۷ کال پوري تکميل کړل شي.

ددې ترڅنګ دهند صدراعظم په ډيره لږه موده کې له اسرائيلو سره د۲۲۲ ميلونو ډالروپه ارزښت په پوځي او اقتصادي برخو کې دراکړې ورکړې توافقات هم لاسليک کړي

له اسرائيلو سره تنها مودي ندی چې تودي اړيکي پالي اومتي ورته بدوهلي، له هغه وراندې واکمنو هم په دې برخه کې هلې ځلې کړې، دهند پخوانی رومبي وزيرجواهرلعل نهرد ساړه جنګ په ابتدايی شپو ورځو ۱۹۵۵ کې دباندونګ په نامه کنفرانس کې دشرکت لپاره اسرائيلو ته بلنه ورکړه، جواهرلعل نهرو دنومورې کنفرانس دجوړولو ديوه مبتکرپه ډول ځانته داحق ورکړی وو چې اسرائيل هم دهغوهيوادونو په کتار کې چې تازه تاسيس شوی کنفرانس ته راوغواړي، ځکه په نومورې کنفرانس ډيری هغو هيوادونو ته بلنه ورکړل شوی وو چې تازه داستقلال خاوندان شوي وو

خو عربي دنيا او داسلامي هيوادونو مشران داسرائيلو له شرکت سره کلک مخالفت وښود اونهرو يې له خپل دريځ څخه واړاوه.

نومورې کنفرانس چې داسيااو افريقا ياافريقا او اسيا دکانفرانس په په نامه يادشوی، هغه لوی کنفرانس وو چې په ۱۹۵۵ ميلادي کې د۲۹ هيوادونو دمشرانو په شرکت داندونيزيا دباندونګ په ښار کې ترسره شو، مهمه موخه يې داسيايی اوافريقايی هيوادونو ترمنځ داقتصادي

اوفرهنګي ګډو هڅو تینګښت او داستعمارګرو هیوادونو په وړاندې دیو اواز اوچت ول وو.

دغه ډول کله چې په ۱۹۷۱ کال دهند په مرسته بنګلدیش له پاکستان څخه لاربیله او ځان مستقل هیواد اعلان کړ، اسرائیل له هند ورسته رومبی هیواد وو چې بنګلدیش یې په رسمیت وپیژاند.

په ۲۰۰۳ میلادي کال کې دهند دملي امنیت مشاور (براجیش میترا) امریکا ته دسفر په ترڅ کې دیهودانو یوې لویې غونډې ته وویل: اوس ددې وخت رارسیدلی چې په اصطلاح دهغو اسلامي افکارو او یاهیوادونو په خلاف چې ددوی په اند افراطیت خپروي، دامریکا، اسرائیلو اوهندوستان له لوري په ګډه اومشترک ډول مقابله وکړای شي.

همدغه دلیل وو چې امریکا په ۲۰۰۹ کال له هندوستان څخه وغوښتل چې نور باید هند دروسیې په ځای دپوځي اړتیا وو دترلاسه کولو لپاره اسرائیلو ته مخه کړه، ځکه اسرائیل ددې صلاحیت لري چې دهندوستان ټولې پوځي اړتیاوي پوره وګرځوي.

کارپوهان باور لري چې له اسرائیلو سره دهندوستان ددومره تودو او مهمو اړیکو دبرقرار ساتلو علت دپاکستان داتومي او هستوي وسلو پیشرفت بولي چې نوموړي هیواد په کمه موده کې په دې برخه له اټکل نه زیات ځغل وکړ، همدارنګه دپاکستان او عربي هیوادونو ترمنځ ستراتیژیکي اړیکي هم اسرائیل دیته اړ ایستلی چې له هند سره اړیکي وپالي.

جهاد : دګناهونو دمغفرت اوجنت ته دتلو ترټولو غوره لاره

عن ابي هريرة رضي الله عنه قال ، قال: رسول الله صلى الله عليه وسلم :الاتحبون ان يغفر الله لكم ويدخلكم الجنة ؟ قالوا بلى. قال فاغزوا . سنن ترمذي :۱۰۲۱/۳ والحديث حسن*

ابوهریره (رض) وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ایاتاسې دانه خوښوئ چې الله جل جلاله درته بخښنه اومغفرت وکړي او جنت ته مو داخل کړي ؟ هغوی وویل: ولې نه ، خوښوویې. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیانو غزاوکړئ.

تشریح: که یوتن ډول ډول ګناهونه کړي وي ، اوغواړي چې دغه ګناهونه یې وبخښل شي ، یاغواړي چې ترټولو دعزت په مرګ دالله تعالی حضورته ورشي ، یاغواړي چې دقبر اوحشر اوجهنم له عذابو څخه په امن کې شي ، یاغواړي چې جنت ته ولاړشي اودجنت نعمتونه یې په برخه شي نو پیغمبرصلی الله علیه وسلم ورته هدایت کوي: چې غزاء یعني دالله تعالی ددین دساتني لپاره جهاد ته ولاړشئ ، ځکه دجهاد په لاره کې که دیوه تن په بدن باندي غبار ولګیږي نودجهنم اور وربانديي حرامیږي ، اودمجاهد وینې ،ویده ، ناسته ،ولاړه ،خوراک ،څښاک ،اوهرڅه باندي اجر اوثواب ورکول کیږي ، اوګناهونه یې رزیږي. نودالله تعالی په لاره کې دهغه ددین دساتلو ،راوستلو اوتطبیق کولو لپاره جهاد کول یادکفارو اودهغوئ دملګرو شوکة ماتولو اوشړلو لپاره جهاد کول دانسان دټولو ګناهونو دبخښني اوجنت ته دتلو ترټولو غوره لاره ده

تبصره سیاسی

اشغالگران به نیروهای دست نشانده، تنها کشتن و شکنجه کردن را آموزش داده اند!

اشغالگران آمریکائی و ناتو تحت عنوان نیروی امنیتی یک گروه از اوباش ها را در افغانستان گردهم آورده و نام های اردو و پولیس ملی را بر آنان نهاده است، که این عمل را بزرگترین دست آورد سیزده سال تجاوز و اشغال ناروای خود میداند. نیروی مذکور بر اساس و روحیه، تعهد و حفاظت از ارزشهای دینی و افتخارات ملی ایجاد نه گردیده و نه هم برای این اهداف تعلیم و اموزش داده شده اند ! اینها برای نجات و حفاظت از سرزمین و استقلال افغانستان تشکیل نشده اند، حتی در این تشکیل، توان اقتصادی کشور را در نظر نگرفته اند.

حقیقت آشکار اینست که کشور ما توان تهیه اسلحه، البسه، اعاشه و اباته، چهارصد هزار تن را ندارد، بلکه بودیجه، تمام کشور، نصف مصارف نیروی حاضر را پرداخته نمیتواند، و سخن واضح دیگر اینست که هیچ شخص و گروهی حاضر نیست که برای رضای خداوند جل جلاله با ما در این بخش همکاری داشته باشد،

اینها تنها اشغالگرانی هستند که بخاطر اهداف استعماری خویش میتوانند و میخواهند این مصارف هنگفت را

پرداخت کنند. پس بصورت واضح، مشخص است که این نیروی مزدور در حقیقت برای تحقق اهداف اشغالگران و بخاطر محتاج و گرسنه نگه داشتن ملت افغان ایجاد گردیده است.

مصیبت بزرگ دیگر اینست که به این نیروی اجرتی هیچگونه تربیه، علمی و اخلاقی داده نشده است، و افرادی را در ان گردهم آورده اند که بغیر از جنگ و کشتن، چیز دیگری را نمیدانند، اکثریت انان قدرت سالاران، جنگ سالاران، تفنگ سالاران، کمونیست ها و افراد اوباش و بی بند و باری هستند که این نیرو نه کدام نظم و دسپلین دارد و نه هم توان و مورال مقابله در مقابل تجاوز بیگانگان. برای اینها تنها طریقه و روش استعمال سلاح و ترساندن ملت خود را تعلیم و آموزش داده اند. برای کشتن و شکنجه کردن افغانها چنان روش ها و طروقی را آموزش

داده اند که هیچگونه همخوانی با حقوق بشر و اخلاق اسلامی ندارد.

از روزیکه اشغالگران پایان ماموریت دروغین جنگی خویش را اعلام کردند، از همان روز این نیروی مزدور دست به جنایات جنگی زده است، خوشحالی ها و مراسم عروسی ها را به غم و ماتم تبدیل کرده، مردم را در سرمای زمستان مجبور به ترک منازل و خانه های خود کرده اند، در بعضی از مناطق دروازه های مسجد را بر روی نمازگزاران بسته اند، خانه ها و منازل مردم فقیر را آتش زده اند، و جنایات بیشمار دیگر از این دست که داستانهای وحشت و مظالم سیزده ساله‌ء اشغالگران از یاد ملت مظلوم رفت.

بطور مثال میتوان از حادثه‌ء اخیر در ولایت فاریاب یادآوری نمود که بتاریخ اول فبروری ۲۰۱۵ میلادی بوقوع پیوست، طبق راپورهای موثق این نیروی کثیف در منطقه‌ء نهرین ولسوالی قیصار ولایت فاریاب خانه ها و منازل بیش از دوصد تن از مردم ملکی و باشندگان محل را آتش زده و سوزاندند که بشمول یک زن و یک کودک چهار تن در آن بشهادت رسیدند. همه‌ء اینها حوادث دردناک و اسفناک در حالی انجام شد که نه کسی فریاد کمک و دادخواهی آنها را شنید و نه هم از کمک و حمایت خبری بود، حتی رسانه ها نیز در این مورد کوچکترین جمله ای ننوشتند.

امارت اسلامی افغانستان از ملت مجاهد خویش میخواهد که این آخرین دسیسه‌ء اشغالگران را نیز خنثی سازند، هر خانواده و هر قوم بر اساس مسئولیت سنگین خود که در مقابل دین مقدس اسلام و سرزمین پاک افغان دارد، به فرزندان خود، اهداف و مقاصد شوم و ناروای اشغالگران را بیان و واضح سازند و جوانان مناطق خود را از صفوف اردو، پولیس و اربکی بیرون کنند، تا از ذلت و رسوائی دنیوی و اخروی نجات یابند

دروژې میاشت کې د نفلونو ثواب :

له ابوسعید الخُدرِي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کوم مؤمن چې د روژې د میاشتې په کومه شپه کې لمونځ کوي نو د الله تعالی له لوري به په هره سجده باندې یو زر او پنځه سوه ۱۵۰۰ نیکۍ ورکول کیږي، او په جنت کې به یو کور ورته جوړیږي، دا کور به له یوې سرې ملغلرې څخه جوړ وي ، (دومره لوی) چې شپیته زره دروازې به لري، د دې هره دروازه به یوه د سرو زرو مانۍ (قصر) لري، دا قصر به په یوه سره ملغلره باندې ښایسته شوی وي.

چې کله د روژې د میاشتې اوله روژه ونیسي نو ټول مخکنۍ ګناهونه او هم هغه چې تر بل رمضانه پورې یې کوي - وبخښل شي.

او په هره سجده باندې به د ورځې یې وکړي او که د شپې - په جنت کې دومره یوه لویه ونه ورته کښنودل کیږي چې په اس سپور سړی به یې په سوري کې پنځه سوه کاله مزل کوي. (البیهقي في شُعَب الإیمان)

له سلمان رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د شعبان په وروستۍ ورځ کې مونږ ته په وینا کې اوفرمایل : ای خلکو ! تاسو ته ډېره ستره او مبارکه میاشت را ورسېدله، داسې میاشت چې پدې کې یوه شپه ده چې له زرو کلونو څخه غوره ده، د دې میاشتې روژه الله جل جلاله فرض کړې ده او د شپې قیام نفلونه یې سنت ګرځولي دي، څوک چې پدې میاشت کې یو نیک کار وکړي (لکه نفلونه او نور) دومره ثواب لري لکه فرض یې چې کړي وي ، او څوک چې فرض پکې وکړي هغه دومره ثواب لري لکه اویا ۷۰ واړې یې چې کړي وي ، (یعنې نفل یې د فرضو ثواب لري او فرض یې د اویا فرضونو) (صحیح ابن خُزیمة)

داسلامي مقدساتوپه سپکاوي به دلويديځ شوم اهداف پوره شي ؟

حسن زوی

دمرغومي په ۱۶ نېټې چې دجنوري د ۷ مې نېټې سره يې سمون خوړ دفرانسې په پلازمېنې پاريس کې دچارلي هيبډوپه نوم دهغې مجلې په مرکزي دفتر ۳ فرانسوي مسلمانوځوانانووسلوال بريد وکړ کومې چې پدې وروستيو کې يوځل بياداسلام دستر پېغمبرلوړشان ته دسپکاوي په موخه کارتونونه خپاره کړل .

دابريد چې يکې په يوځل د ۲ پوليسو په شمول ۱۲ فرانسويان ووژل شول په تېرو ۴ لسيزو کې دفرانسې په تاريخ کې يې ساري اوترټولوخونړۍ حمله ګڼل شويده .

په زړه پوري حسن تصادف داوچې دحملې پر مهال د مجلې په دفتر کې غونډه روانه وه او وژل شوي تنان ددې لپاره سره راټول شوي ووچې په مستقبل قريب کې يو ځل بيا دکاريکاتورونو خپرولو لپاره پلان جوړ کړي چې دوه ورونه شريف اوسعيد کواچې دفترته په ورننوتلو بريالي شول ؛دننوتلو سره سم يې دالله اکبر نارې پورته کړې ؛ ترټولوړومبی يې دلته په امنيت ګومارل شوي دوه پوليس ووژل ؛ بيا يې په ناستوکسانو کې دهريونوم واخستلو اوپه ډپرې اساني دمجلې دمديرستيفن کاربونيرو ؛ دکارتونونو جوړونکو هريو کابو ،تکنوس ، وولنسکي اودبرنارډمارس نومي جورنالست پروژلو وتوانېدل ؛ دټولو دوژلو نه پس يې بيا دالله اکبر نارې پورته کړه او وېې ويل مور دخپل پېغمبرپه شان کې دسپکاوي انتقام واخستلو ؛ بياله دفترې راووتل ؛ دوئ اوبيرون په پيره ولاړ دريم ملګرې يې په موټر کې کېناستل اوله سيمې نه په روغ رمټ وتلو کامياب شول ؛ دې ټولوعملياتوايله پنځه دقيقې وخت واخست خوچې دفرانسې په څېر هېواد کې ترسره شول نو کابوپه همدومره وخت کې پوليس هم دپېښې ځای ته راورسېدل اوددوئ دنيولوهڅې يې هم وکړې خو دپوليسوهغه موټرچې ددوئ پسې شوی و دوئ ته په ورنېږدې کېدو پرې دوئ ډزې وکړې چې له املې يې دمخې شيشه ورماته اوپه موټر کې ناست پوليس يې له دې وويستل چې نوردوئ تعقيب کړي

سعيد اوشريف چې دواړه سره ورونه دي په خټه عربان خوپه فرانسې کې زېږېدلي اوراستر شويدي اوهمدلته يې زدکړې ترسره کړيدي .

دفرانسې دولت وايې چې دامنيتي ځواکونو دپرلپسې لټون په نتيجه کې دحملې نه ۲ ورځې پس سعيد اوشريف ومونډل شول اودواړه دامنيتي ځواکونوسره په وسلوالې نښتې کې ووژل شول .

دزماني بدنامه چارلي هيبډونومي مجله چې په ۱۹۷۰م کې تاسيس شويده مرکزي دفتريې په پاريس کې دی؛ داکومه علمي ؛ ادبي ؛ سياسي يا مذهبي مجله نده نوځکه کم لوستونکي لري ؛په اروپاکې يې خاصه طبقه لولي اوتيراژ يې

ایله ۶۰ زروته رسیږي؛ دلنډ غږ ویوه ډله یې چلوي؛ خلکو پسې دټوکو، خندا اودخلکوله سپکاوي پرته پکې دکاربل هیڅ شی نه خپرېږي؛ دخپل وجود نه ترننه دې مجلې دګنونامتو اوتاریخي اشخاصو سپکاوی کړیدی چې داکار نه یواځې داچې دبیان ازادي اوسم کاریې بولي بلکې دځان لپاره یې افتخارهم ګڼي؛ دامجله په همدې کارونو څوځلي بنده شوې اوپه خپرېدا یې بندیز هم لګېدلی دی.

دې مجلې له دې وړاندې په ۲۰۰۶، په ۲۰۱۱او۲۰۱۳ کې هم دسترپېغمبر په شان کې دسپکاوي نه ډک کارتونونه خپاره اودټولې نړۍ دمسلمانانو زړونه یې سخت دردولي چې هرځل یې پرضد دنړۍ په ګوډ ګوډ کې مسلمانانو خپله کرکه بنکاره کړې اواسلامي نړۍ دخپل غم اوغصې داظهار ترڅنګ دمجلې مسئول مدیر ته دسزاور کولواودمجلې دبندولو غوښتنه هم کړې خو دفرانسې په شمول ټول لوېدیځ هرځل دسخت تکبر نه کاراخستی اود مسلمانانو دې غوښتنې ته یې هیڅ توجو نده کړې چې دې کارمجلې ته دټول لوېدیځ له لورې دډاډ معنی لرله نوځکه مجلې نه یواځې داچې په خپلو کړو ویې کله پښېمانتیانده بنکاره کړې اونه یې دمسلمانانو نه بښنه وغوښتله بلکې دمجلې مسئول مدیراو کاریکاتورجوړونکوخپل دې کارته هرځل ددوام ورکول اعلان کړې؛ بیاخبره د مجلې په دفتر دډزو اوبمي بریدونو هم رسېدلی ده خودمجلې اداره پدې هیڅ هم دخپلو شیطاني کړنونه، نه وه لاس په سر شوې تردې چې پرضد یې هغه څه ترسره شول څه چې پکار وو.

سره له دې چې یاده مجله کومه نامتونشریه نه وه اونه هم داپېښه څه ډېره ستره پېښه وه خوداچې لوېدیځ ته خپل لږځه هم ډېرارزښت لري اوحمله کونکي مسلمانان وونودمسلمانانوپرضد دخپل یووالي دښکاره کولو، دمجلې دشیطاني کړنو دتائید اوپرې دشوې حملې دغندنې په موخه ټوله لوېدیځه نړۍ په خوځښت راغلی ده؛ دامریکا دولسمشر بارک اوبامانه ترالمانی مشرې انګېلامرکل اودبرتاني دلومړي وزیر ډیویډ کامرون نه تردارویایې اتحادې مشر کلودیونکرپورې ټول دخفګان په بنکاره کولو اودفرانسې اودهیبډومجلې سره دغم په شریکولو کې اخته دي اوټول په یواواز دادبیان پرآزادۍ حمله بولي.

پدې اړه په پاریس کې ډېرستر لاریون رامنځته شو چې دغربي میډیاپه وینا پکې له ۳ ملیونونه زیاتو ګډو شرکت کړی و(په حقیقت کې که هرځومره ووخوددوئ نه څوک پوښتنه کوي چې ۳ملیونه دي اوکه ۳ لکه ؟) اوداد پاریس په تاریخ کې بې ساري لاریون و چې دبرتاني ولسمشر ډیویډ کامرون؛ دالمان مشرې انګېلا مرکل، داسرائیلو لومړي وزیر تنن یاهو، دفلسطیني اداړې مشر محمود عباس اوداردن مشر شاه عبدالله اودلوېدیځ دنورو هېوادونوپه شمول یې د۴۰ هېوادونومشرانو قیادت کولو.

دیادولو وړده چې دې لاریون ته دسپکاوي په موخه دجوړوشوېو کاریکاتورونو عکسونه هم راوړل شوي وونوځکه خو احتجاجاً دمراکش دباندنیو چارو وزیر پدې لاریون کې دګډون کولو نه انکار وکړ.

اسلام دفرانسې دوهم ستر مذهب دی؛ دلته ۷ ملیونه مسلمانان ژوند کوي پدوئ کې دزیاترو تراودمراکش، الجیریا، تیونس اونوروهغوهېوادونوسره دی کوم چې یو

وخت دفرانسي تر استعمارلاندې وو خوبدې هېواد کې دنويومسلمانو شويو مسلمانانو شمېره هم ښه زياته ده :ځکه چې فرانسه داروپاهغه هېواد دی چې اسلام پکې په ډېرې تېزۍ خپرېږي ځکه خونورلويديځ په پرلپسې ډول دا اندېښنه ښکاره کوي چې شايد ځولسيزې پس داهېواد په اسلامي هېوادبدل شي چې په پرله پسې ډول دکارتونونودخپرېدا يواساسي لامل هم همدا داسلام دتېزخپرېدا دمخنيوي هڅې دي .

په ټوله کې ټول لويديځوال دتېرې يوې لسيزې راهيسې داسلام وېرې پسې اخستې دي اوداکثريت يې دايقين دی چې اسلام ددوئ دکلتور لپاره ورو ورو په لوی خطربدلېږي : لويديځ دا وېره ښکاره کوي چې که داسلام دسونامي مخه ونه نيول شي نوټول لويديځ به له ځان سره لاهوکړي نوځکه نوي نوي قوانين جوړوي اوهرهغه اقدام کوي چې ورباندې داسلام اومسلمانانودپر مختګ مخنيوی کېدای شي.

موږبايددامنوچې دا وېره تر يوحده پرځای ده چې په ټولولويديځوالو کې اوس خپره شوې هم ده خوله بده مرغه چې پکې له ډېرې مبالغې کاراخستل کېږي ځکه چې وېره خپرونکي بل ځوک نه بلکې يهودان دي او يهودان چې د دوهم نړيوال جنګ نه پس يې په امريکا او د اروپا په اکثرو هېوادونو کې د مسلمانانو په پرتله شمېره زياته وه اوس چې د نورو نامسلمانو په څېر په يهودي مېرمنو کې هم دبچو نه راوړلو او يا ايله ديو يا دوه بچو راوړلو طرف ته ميلان زيات شوی نو د يهودانو نسلونه ورو ورو کمېږی بل دا چې يهوديت نا دعوتي مذهب دی يهودان د هندوانو په څېر هيڅا ته د يهودي کېدلو دعوت نه ور کوي او نه هغه څوک يهودي کېدای شي چې پلار او مور يې يهوديان نه وي نو يهودان زياتېږي نه بلکې کمېږي خو برعکس په امريکا او اروپا کې مېشتو مسلمانو کورنيو کې د کوچنيانو پېدايښت زيات دی اوترڅنګ يې اسلام د دعوت والا دين دی چې داسلام ددښمنانودټولو کوښښونو؛دسيسو؛ مکرونو اوپوچو تبليغاتوسره سره هم اسلام يواځنی هغه دين دی چې ښه په تېزۍ سره په اروپا او امريکا کې خپرېږی او په لويه پيمانه پکې د يهودانو په شمول نا مسلمان را داخلېږي .

دګالوب نومي امريکايي اداري دعامو نظرونو دځېرنيز مرکزله لوري د۲۰۰۸ کال په خپروشويو اعدادواوارقامو کې ښه په ډاګه ښوول شوی وه چې دا دين په نړۍ کې تر بل هر مذهب زيات خپرېدونکی دی ؛ ددې تر ځنګ دا اعتراف هم شوی وچې ټولې هغه هڅې چې داسلام او مسلمانانودبدنامولو اوپه نړۍ کې يې دنړۍ معرفي کولولپاره په کار اچول شويدي دماتې سره مخامخ شويدي .

ددې ترڅنګ چې په لويديځ کې دمسلمانانو نسل زياتېږي اوپکې زيات خلک اسلام کې راداخلېږي لويديځ ته د مسلمانانو راتګ هم زيات دی نو مسلمانان په غرب کې ورځ تر بلې زياتېږي .

يهودان په لويديځ کې خپل کمښت او د مسلمانانو تېز ډېر والي او د اسلام تېز خپراوی سخت ورخطا کړيدي نو ځکه د مسلمانانو سره د غربيانو د نفرت پېدا کولو او په اروپا او امريکا کې د اسلام د خپرېدا د مخنيوي لپاره مسلسل ناپاکه پلانونه جوړوي او په ډېر چل او هنر دلويديځ متعصب پاپان او سيکولر مشران د خپل هدف د تر سره کولو لپاره د

آلې په توګه کاروي ؛ په نړۍ کې داسلام اومسلمانانو بدنامول دهدف دترلاسه کولولپاره ددوئ ډېره کاميابه اواسانه وسيله ده ځکه چې پر نړيوالورسنيو چې ديهودوقبضه ده نودنړۍ په ګوډ ګوډ کې پر مسلمانانوشويو اوروانو ظلمونو اووحشتونوباندې پردې راڅوي خوبرعکس داسلام اومسلمانانوپرضد پکې ډېر زهرجن اومنفي تبليغات خپرېږي ؛ اسلام نړۍ ته دوروسته پاتي ؛ دېرمختګ ضد دتشدد نه ډک ،ظالم اوجابرداسې دين په صفت معرفي کوي چې يواځې قتل وقتال اودانسانانو وژلوته خپل منونکي هڅوي؛ نه په چارحم لري ؛ نه پکې دانسانانودحقوقولحاظ شته اونه هم بشريت ته احترام لري .

دلويديځ پليته ميديا چې پدې پوهېږي چې مسلمانان دخپل پېغمبر ،خپل کتاب قرآن عظيم الشان اوخپل دين سره دومره مينه کوي چې ورنه دخپلو ځانونوجارول دخپلوځانونولپاره سعادت ګڼي نوپه منفي اوزهرجنوتبليغاتو يې بسيا ونکړه بلکې ددې لپاره چې دنړۍ دمسلمانانوزړونه پرهر پرهراوپه پرهرونويې مالګې ودوړوي داسلام ،قرآن اوداسلام ستر پېغمبرته يې دسپکاوي داسې ناوړه اوناولې لړۍ پيل کړه چې په ښکاره يې دتم کېدلو هيڅ نښې نه ښکاري او وروستۍ کړۍ يې دچارلي هيبدونومي فرانسوي مجلې له لورې داسلام دسترپېغمبردسپکاوي په موخه دکاريکاتورونو دخپرولوخورامذموم عمل دی چې په مقابل کې يې عکس العمل هم ټولې نړۍ ولیدلو؛ د کارتونونو جوړول ، پر حجاب بنديز ؛ دجوماتونو د منارو ړنګول ؛ د قرآنکريم بې حرمتي ؛ اوس بيا دکارتونونوجوړول او داسلام او مسلمانانو پرضد دنورو ورته ټولو اقدامونو تر شا د يهودانو لاس دی ، چې د يادشوي هدف دترلاسه کولو لپاره ترسره کېږي او د سيکولرزم مخکښان او متعصب عيسوي مشران پدې لارکې داسې استعماليږي چې دبشري حقوقودساتنې ؛ انساني مساوات اودانسانانو عقايدو،مذاهبواولوړواشخاصوته احترام ټولې دعوې يې هېرې وي.

خو پوښتنه دا ده چې آيا يهودان او متعصب جاهل پادريان او پاپان به ګيني په ورته اقدامونو خپل دې هدف ته ورسيږي او د اسلام اود اسلام د تېز خپراوي مخه به ونيسي؟

حقيقت دا دی چې سيکولرزم (د خدای او دين نه انکار) په نړۍ کې خپلې ريښې ډېر مصبوطې کړيدي او ټولې نړۍ ته په ډېرې تېزۍ خپرېږي چې له دې املې د اسلام پرته ټول مذهبونه د ورکېدو پر لور روان دي ،په امريکا او نورو لويديځو هېوادونو کې د چرچونو مذهبي مشران له دې ډېر زيات سرټکوي چې چرچونو ته څوک په اوونۍ کې يو ځل يا دې يکشنبې په ورځ هم نه راځي ، په زرونو چرچونه داسې دي چې د خلکو د نه ورتګ له املې ورته قلفونه وراچول شوي او څه موده پس بيا مسلمانانو د جوماتونو لپاره اخستي دي ، د عيسويت د ژوندي ساتلو او مسلمانانو د مرتدو کولو لپاره هر کال په ميليارډونه ډالر لګول کېږي خو نتيجه يې صفر ده او پدې اړه چې د مثبتو پايلو کوم خبرونه خپرېږي پخپله لويديځوال حق ويونکي پوهان هم وايي چې پدې کې ۹۰٪ خبرونه په دروغو ولاړ دي چې د چرچ مشران له دې لارې د بډايو عيسويانونه په ميليارډونه ډالر وهي او بس .

په لويديځ کې چې کوم تنان سيکولرندي بلکې په خدای ايمان لري په هغوئ کې ډېر کم د مذهب په اړه معلومات

لري ؛ کله چې د رسول الله صلی علیه وسلم یا د قرانکریم د بې حرمتۍ یاد منارو ړنګولو او یا پر حجاب د بندیز په څېر د اسلام ضد ناپاکه پلان یا پېښه رامنځته شي نو مذهبي لارښونو نه دا بې برخې تنان بیا د اسلام مطالعه پیل کړي قرآن ولولي او پدې پوه شي چې د اسلام او قرآن لارښوونې د سلیم فطرت سره برابرې دي د انساني ټولنې لپاره د خیر ،برکت ، امن ، سکون ، خواخوږۍ او ورور ګلوۍ نه ډکې دی نو دا تنان بیا په ډېر شوق مسلمانېږي چې یوه کوچنۍ بېلګه یې په ګراون زیرو کې دمسجد دجوړېدو په سر د راپورته شوی شخړې پر مهال په واشنګټن ډی سی کې د ۱۸۰ تنانو مسلمانېدل دي ؛ د امریکا دپلازمینې واشنګټن ډی سی په ګراون زېرو کې چې د مسجد د جوړولو پرېکړه شوی وه نو دیهودو په لمسون یې دپاپانوله لورې مخنیوی هڅی پیل شوی وې او ټیری چونزنومي بدبخته پادري خو د قزانکریم د څو نسخو د سوځولو اعلان هم کړی وچې ددې اعلان او دمسجد دجوړېدو دمخنیوي دهڅونه په لږو ورځو کې یواځې په واشنګټن کې ۱۸۰ تنانو اسلام قبول کړی و.

نو ټول لویدیځ او په ځانګړی توګه د یهودیت او عیسویت مذهبي مشران دې پدې پوه شي په کارتونو جوړولو ، د منارو ړنګولو ، پر حجاب بندیز او د قرانکریم د څو نسخو سوځولو باندی په لویدیځ کې د اسلام د تېز خپراوي مخه نه شي نیول کېدای او نه پرې د اسلام رڼا تتېدای شي زموږ رب داسلام د غلبی وعده کړیده اوس چې نړیوال د بې دینۍ نه تنګ شویدی اسلام ته د رجوع وخت را رسېدلی دی ؛ که څوک غواړي او که نه اسلام به په ټولی نړۍ غالب شی ان شاءالله

دپیغمبر صلی الله علیه وسلم له قافیي څخه

عن علي رضی الله تعالی عنه قال... اجود الناس صدرا ، واصدق الناس لهجة ، والینهم عریکة ، واکرمهم عشیرة ، من رأه هابه ، ومن خالطه معرفة احبه ، یقول ناعته لم اری قبله ولابعده مثله صلی الله علیه وسلم. رواه الترمذي مشکوة ص۵۳۹\

ژباړه: حضرت علي رضی الله تعالی عنه چې به دپیغمبرصلی الله علیه وسلم بیان کاوه نوویل به یې: پیغمبرصلی الله علیه وسلم ترټولو جواد اوسخي ؤ ، اوترټولو رښتونی ، په طبیعت کې نرم ، اوپه قوم کې ترټولو عزتمند ، اوښه رویه کونکی ، کله چې به پیغمبرصلی الله علیه وسلم ناڅاپي ولیدل شو نوخلګ به تري په هیبت کې ؤ ، اوچې ورسره بلد به شوونوبیابه یې زیاته مینه وه ورسره. دپیغمبرصلی الله علیه وسلم مدح چې به کوم تن کوله نولنډ به یې داسې وویل: چې نه دهغه په څیر څوک لیدل شوی ،اونه به څوک په همدغه صفاتو وموندل شي.

ابوعبیده وایې چې مادربیع بنت معوذ څخه وپوښتل چې دپیغمبرصلی الله علیه وسلم په اړه څه راته ووایې: هغي وفرمایل: هی زویه که دي لیدلی وای نو یوختلی لمر ؤ.

انس رضی الله تعالی عنه به ویل: نبي صلی الله علیه وسلم له رنګ څخه سپین ؤ ، خولي به یې په مخ داسې ښکاریدي لکه ملغلري ، چې کله به روان شو نوپه وړاندي به یې داسې قدم واهه لکه کښتۍ ، دوریښمو ترجامو دپیغمبرصلی الله علیه وسلم لاسونه ډیر پاسته اونرم ؤ .ماداسې مشک اوعنبرنه دي لیدلي چې دهغوئ دي دپیغمبرصلی الله علیه وسلم په شان خوشبویې ولري . متفق علیه. مشکوة ۵۳۹

غوره حکایت

ر-م- ساقیار

مجاهد وایي چې ابو هریره رضی الله تعالی عنه راته وویل چې په هغه ذات مې دې قسم وي، چې له ده نه په غیر بل خدای نشته ، چې ما به ډیر وخت دلوږې له کبله خپل نس او سینه له ځمکې سره لګوله، ددې لپاره چې کله وکولای شم ،دځمکې په لوند والي او سوړوالي دنس دلوږې ګرمي څه کمه کړم او ډیر وخت به مي په نس پوري ډبرې تړلې،

یو ه ورځ دلارې پر سر کښیناستلم، په دې وخت کې ابوبکر رضی الله عنه تیریده، چې ما ورڅخه دیوه آیت مبارک پوښتنه وکړه او غرض مې دا و، چې هغه زما دا خوار وزار حالت وویني او له ځان سره مې د ډوډۍ خوړلو لپاره بوځي، خو هغه مبارک ولاړ او زما په غرض ونه پوهیده !

همدا راز حضرت عمر رضی الله عنه تیریده ،ما ورڅخه دیوه آیت مبارک پوښتنه په همدې غرض وکړه، خو هغه هم ولاړ.

څه وخت بعد ابو القاسم صلی الله علیه وآله وسلم (څوک چې لوی خدای دخیر او برکت تقسیم کونکی را استولی)تیریده زما په لیدلو سره وپوهیده او ویې خندل، راته ږغ یې کړ، ای(ابو هریرة) ماورته وویل یارسول الله لبیک انو ده مبارک راته وویل:راځه له ماسره ولاړشه ،بس ورسره شوم، دا وو، چې کورته یې ورسیدو ،که ګورو ،نو په کورکې یې یوه دشیدو ډکه پیاله پرته وه ،ده مبارک پوښتنه وکړه، دا له کومه شوې؟ دکور والاوو ورته وویل:چې دافلاني تحفه در ته را لیږلې ده !

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې ابو هریره !ورشه اصحاب صفه را وبوله !

ابو هریره وایي اصحاب صفه خو داسلام میلمانه ول، نه یې کوم کور درلود او نه هم مال ،غرض دا چې، ددوئ داوسیدلو بل کوم ځای نه وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې به له یو ځای نه صدقه راتله ،نو اصحاب صفه وو ته به یې

ور استوله او خپله به يې څه نه ور څخه اخيستل ،دا لدې کبله، چې ده مبارک ته صدقه اخيستل حرام وو او که به هديه راتلله ،نو ده به هم ورڅخه څه قدري اخيستله او اصحاب صفه مبارکان به يې هم ورګډول ، دا وخت چې ده راته وويل ،چې ورشه اصحاب صفه هم را وبوله ،نو دا خبره پر ما څه داسي درنه غوندي شوله او په زړه کې مې وويل:چې دا يوه پياله شيدې به د اصحاب صفه وو بس شي ؟ددې شيدو تر ټولو زيات مستحق خو زه وم ، چې څه وخښم او طاقت را کې پيدا شي، بيا داچې کله اصحاب صفه راغلل، نو پيغمبر عليه السلام دا حکم راته وکړ، چې زه يې پر اصحا ب صفه ووتقسيم کړم ،نو مې يو مخ طمعه وختله، چې ماته دې څه را پاتې شي، مګر دخداى ج او دهغه درسول ص له اطاعت نه چاره نوه !

بس دا وو چې دده په امر هر يوه يوه يې خپل څښل شروع کړل ، ټول پرې سيراب(ماړه) شول ،نو ده مبارک زما خواته وکتل ،ويې خندل او راته يې داسي وويل:اوس نو يوازې زه او ته پاتې شو ؟ ماويل هو !نو ده راته وويل کښينه او څښل دې شروع کړه !

بس ما هم څښل پيل کړل ،ده به راته ويل نور وڅښه ،نور وڅښه ، تر دې وخته ،چې ما ورته وويل:چې په هغه ذات مې دې قسم وي ،چې ته يې په حقه سره را استولى يې ، نور يې نشم څښلاى ،ځاى راکې نشته ، نو ده پياله زما له لاس نه واخيسته او دالله حمد يې ووايه او په بسم الله سره يې هغه پاتې شيدې وڅښلې ۰

بخاري جلد ۲ ص ۹۵۵ باب کيف کان عيش النبي(ص)

شريعته

مولوي مسلمیار

شريعته په سلګو کې دې رانغاړو
په شلېدلو ګرېوانو کې دې رانغاړو

د دعا په سپين پلو کې مو نيولى
په ستومانه امينو کې دې را نغاړو

د زړګيو په تهاکو کې انځورې
په زرينو تلوسو کې دې رانغاړو

حماسي مو ستا په ياد کې ليونى دي
د تکبير په زمزمو کې دې رانغاړو

ټول د ردونه اسويلي ور پکې سپړو
په غزلو ترانو کې دې رانغاړو

هره آه او هره کړيکه دې رابولي
په زهيرو پرهرو کې دې رانغاړو

شريعت لوى او کم د رپسي ګرځي
سر په لاس ګرځوي سم د رپسي ګرځي

په يو آن کې يې له زړو ايستلى نه يې
که خوښي وي او که غم د رپسي ګرځي

څو امينې پرګنې امين قومونه
په هيڅ شي نشي اړم د رپسى ګرځي

يو څو کونډې کونډې هيلي په د ردو دي
تويوي او ښکې زم زم د رپسي ګرځي

احرامونه د غزاو يې ترلې
لټوي دې سپين حرم د رپسي ګرځي

دجهاد فقهي مسائل

جهاد کې محرمات او مکروهات

دښمن په اور سوځول ،اوبو کې لاهو کول اويايې په منجنيق بمبارول !

مفتي ابومحمد (حقاني)

۱۸ برخه

کله چې دمسلمانانو امام ،جهادي قوماندان او اسلامي لښکرو دکفارو پوځي چونې،عسکري قرارګاوي يا کوم نظامي مرکز محاصره کړ،نو ترپايه به دا محاصره مستدامه ساتي او شاګرځ به ترې نه کوي ،لکه څنګه چې همدا خبره په (الموسوعة الفقهية)کې ليکلي او ددې څخه يې لاندينې څو صورته مستثنى کړي دي ،چې دې صورتونو کې مجاهدين او جهادي مشرکولای شي، چې خپل مجاهدين شاته کړي ،چې هغه په لاندې ډول دي دالموسوعې عبارت څه داسې دی: وإذا حاصر الإمام حصنا لزمته مصابرته ولا ينصرف عنه إلا في إحدى الحالات الآتية١- أن يسلموا فيحرزوا بالإسلام دماءهم وأموالهم ، لقول النّبيّ صلى الله عليه وسلم « أمرت أن أقاتل النّاس حتّى يقولوا لا إله إلا الله ، فإذا قالوها عصموا منّي دماءهم وأموالهم إلا بحقّها » .....

١-يوداچې دا محاصره شوي کفار اسلام قبول کړي او ددوئ د اسلام دمنلو په وجه يې وينې او مالونه مصؤن پاتې شي ،ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې ،ژ:ماته امر شوی، چې زه به تر هغې پورې له خلکو (کفارو)سره جنګيږم، چې ترڅو (لااله الا الله)ووايي ،بيا يې چې کله ،کلمه وويله، نو يې زما څخه ددې ددې کلمې له حق پرته وينې اومالونه معصوم او بچ شول.

۲-داصورت دی ،چې دپیسو په عوض کې ورسره سوله وکړي ،عام ددې څخه چې داپیسې تړې ټولې یو ځل را اخلي او که نه دخراج په بنه یې تړې هرکال اخلي، که چیرته له هغو خلکو څخه دوئ وو ،چې جزیه تړې منل کیدای شوه ،نواو دا جزیه یې پرځان ومنله ،نو هم دې تړې قبوله کړای شي ،اوداد الله تعالی ددې قول څخه جوته ده چې فرمایي: {حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ}اوکه چیرته دې محاصره شوې وکفارو ،مجاهدینوته دمحاصرې دماتولو په بدل کې پیسې ورکولي اوداپیسې یې دجزیې په نوم نه ورکولي ،نوکه امام پکې بیا هم مصلحت کوت ،نو تړې قبلولای یې شي ،مګر که چیرته پکې کوم مصلحت نه وو ،نو بیا یې قبلول پر امام لازم ندي.

۳-صورت دادی ،چې مجاهدین دا پوځي قرارګاه فتحه کړي ،نودې صورت کې خو پخپله محاصره له منځه ځي.۴-صورت:کله چې امام ددې محاصرې په ختمولو او عسکروشاته کولو کې کوم ډول مصلحت وګوري ،یا مصلحت داوي ،چې دمجاهدینو اوږده محاصره او اقامت ضرر پیښوي ،یا نهیلي پیدا شي،یایو داسې مصلحت وي ،چې داسلامي پوځ په اوږده دیرې او اقامت له منځه ځي ،لکه حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله اهل طائف محاصره کړل ،او څه پکې ترلاسه نشول، نوویې فرمایل: چې سبا سهاربه بیرته ځو ،نو مسلمانانوویل ،چې مونږ به بیرته ځو ، خو فتحه به مو نوي کړي ،نو ده صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل ،چې سبا وختي ځانونه جګړې ته چمتو کړئ،نو چې سبا یې ورسره جنګ وکړ، صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم ژوبله ولیده ، نبی علیه السلام بیا وفرمایل :چې سبا به وختي بیرته روانیږو !نو داځل صحابه رض چوپ شول او چا څه ونه ویل ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم تبسم وکړ ،بل روایت کې تړې ضحک راغلی ،لکه همدا روایت صحیح البخاری داسې رانقل کړی: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ حَاصَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ الطَّائِفِ فَلَمْ يَفْتَحْهَا فَقَالَ إِنَّا قَافِلُونَ غَدًا إِنْ شَاءَ اللهُ فَقَالَ الْمُسْلِمُونَ نَقْفُلُ وَلَمْ نَفْتَحْ قَالَ فَاغْدُوا عَلَى الْقِتَالِ فَغَدَوْا فَأَصَابَتْهُمْ جِرَاحَاتٌ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا قَافِلُونَ غَدًا إِنْ شَاءَ اللهُ فَكَأَنَّ ذَلِكَ أَعْجَبَهُمْ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ).

۵-صورت :مجاهدین به هغه وخت محاصره ختموي، چې کفار دکوم حاکم په حکم تسلیم شي او وسله پر مځکه وغورځوي ،لکه چې پدې دبنی قریظو فتح ډیره مشهوره او دحدیثو کتابونو رانقل کړي ده ، چې کله نبی علیه الصلوة والسلام بنو قریظه محاصره کړل ،نوهغوئ پدې راضی شول ، چې مونږ دحضرت سعد بن معاذرضی الله عنه په فیصله او حکم له کلاګانو څخه درکوزیږو !ددوئ ددې غوښتنې اجابت وشو ،دلته علامه ابن قدامه رح)حنبلي عالم وایي: داسې حاکم کې باید دا شرطونه

موجودیدل ضرور وي:چې آزاد ،مسلمان ،عاقل ،بالغ،نر ،عادل او فقیه به وي !داهغسې شرطونه دي، چې دمسلمانانو په حاکم او مشر کې هم ضرور دي ،ابن قدامه رح وایې، چې ددې جواز شته، چې که چیرته دا حاکم رڼوند وي نو پریکړه به یې صحیح وي،ځکه دلته صرف داسې یوځوک ضرور دی ،چې مصلحت وپیژني او دپخې رأیې خاوند وي ،او دا سې شخص ته رڼدوالی یا عمی زیان نه رسوي ،البته په قضاء کې بینا والی حتمي دی ،داددې لپاره چې شاهد او مشهود ،مدعی او مدعی علیه ، مقر او مقرله وپیژني او تفکیک یې کړای شي ،همداسې ددې حاکم شخص لپاره دانده ضرور ،چې په ټوله فقه او هغو احکامو باندې دې وپوهیږي ،هاغه چې ددې مسئلې سره اړیکه نلري ،لکه حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه یې غوره مثال دی ،

په الموسوعة الفقهیة کې لیکي: چې که چیرته دې محاصره شویو کفارو دوه کسه دخپل ځان دپریکړې لپاره حاکمان وټاکل، نو هم صحیح ده او کوم حکم باندې چې دوئ دواړو اتفاق وکړي ، بیا به هغه صحیح وي ،که چیرته کفارو وویل، چې مونږ هغه ځوک دحکم په حیث منو ، چې دمسلمانانو امام یې وټاکي، نو دا هم صحیح ده ،خو که دوئ له خپلو پوځي چونیو څخه یدې شرط راکوزیدل چې ددوئ کوم کافر ملګری به یې په باب حکم کوي او یا به یې تعیین دوئ کوي ،نو دانا جایز ده ،او که چیرته دوئ محاصره شویو کفارو داسې څوک دخپل حکم په توګه وټاکه، چې امام هم پرې خوښ وو ،نو هم جواز لري ،لکه بنو قریظه وو چې په حضرت سعد بن معاذ رض باندې راضی او دا یې وټاکه ،او بیا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پرې راضي او دفیصلې اجازه یې ورکړه او ده داسې وفرمایل چې(لقد حکمت فیهم بحکم الله»

دحکم طریقه یې:که چیرته یې حکم وکړ، چې جنګیالي دې ووژل شي او ماشومان دې یې بندیان شي ،نوحکم یې نافذ دی ،ځکه سعد بن معاذ رض همداسې حکم کړی و ،او پیغمبر ضلی الله علیه وسلم ورته ویلي وو ،چې(لقد حکمت فیهم بحکم الله تعالی من فوق سبعة أرقعة)..که چیرته یې داسې حکم وکړ، چې جنګیالي احساناً آزادشي اواولاد دې یې اسیر شي ،نوقاضي وایې: چې دا حکم هم لازم العمل دی اودا امام شافعی رح مذهب دی، خو ابو الخطاب دا غوره بللې ،چې دده دحکم نفاذ لازم ندی ،اوکه چیرته یې داسې حکم وکړ ،چې ددوئ اولاد دې احساناً آزاد وي ،نو مناسب داده ،چې جواز ورنکړل شي ،خو ددې احتمال شته چې دځینو وجوهاتو پر بناء جایز شي اوکه چیرته یې ترې دخوشي کیدو په بدل کې فدیه واخسته نو دا روا ده !

نوربیا .....

ثبات و امنیت گمشده بشریت

نگارنده: محمد ابراهیم یوسفی

جهانی که در آن بسر می بریم امروزه مملو از وحشت و نگرانی برای ساکنین خود شده و با همه وسعتش برای اهل خویش تنگ گردیده! {حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ} [توبة: ۱۱۸]

امنیت و آرامش این عطیه الهی امروزه به وسیله کسانیکه خود را حامی امنیت برای انسانیت قلمداد می نمایند زیر پا شده و به عنوان یک شعار خشک و بی محتوا برای معامله گیری های شخصی، قومی و نژادی در آمده و توسط بازیگران زمزمه می شود.

تلاش و اندیشه برای امنیت امروزه بیش از هر زمانی دیگر نیاز بیشتری را می طلبد تا جایگاه اصلی امنیت و صلح جهانی در صدر برنامه ها قرار گرفته. و بر علاوه تلاش های فردی و سازمانی، گفتمان های علمی در سطوح مختلف صورت بگیرد. عوامل ناامنی مورد بررسی کارشناسانه قرار گرفته تا باشد به این پدیده شوم که سبب رنج و پریشانی جهان قرار گرفته نقطه پایان گذاشته شود. نکاتی که در ذیل خدمت خوانندگان محترم تقدیم میشود صرف اشارۀ ایست به نقش امنیت در روند زندگی، امید است که مفید واقع گردد.

جایگاه امنیت در قرآن کریم:

قرآنکریم به عنوان آخرین کتاب الهی تمام نیازهای بشریت را مورد توجه قرار داده و برای فراهم کردن یک زندگی مناسب که در بستر آن انسان بتواند به اوج کمال و رفاه و آسایش برسد وسایل لازم را فراهم دیده است.

الله متعال من باب منت گذاری برای مخاطبان اول قرآن و کسانیکه انواع نعمات الهی را بدست فراموشی سپرده بودند چنین سخن می گوید {الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ} [قریش: ۴]

در آیه فوق الله متعال از دو اصل اساسی که همه انسانیت بدون استثنا به آن نیاز دارند یادآوری می نماید، که اول آن رفاه اقتصادی است و دیگر امنیت و آرامش است؛ اگر درست دقت شود تعبیر قرآنی بسیار دقیق ومطابق با خواسته های فطری بشریت است. تجارب انسانی در طول تاریخ زندگی اش بیانگر این واقعیت است که هرگاه جوامعی که از دو اصل فوق (رفاه اقتصادی و آرامش) برخوردار بوده، همواره مسیر ترقی و پیشرفت را طی نموده و از خود در همه عرصه های زندگی آثار بس

گران سنگ و قابل توجهی را بر جای گذاشته که نسل های بعد شان توانسته اند از آن تجارب در حیات فعلی خویش استفاده های بهینه را بنمایند.

در جای دیگر از قرآن کریم از قومی سخن به میان می آید که بر خوردار از نعمت امنیت و رفاه اقتصادی بوده و زندگی بسیار خوش و آرامی را سپری می نمودند {وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِنْ كُلِّ مَكَانٍ...} نحل: ۱۱۲

ترجمه: خداوند مردمان شهري را مثل مي زند که در امن و امان بسر مي بردند و از هر طرف روزيشان به گونه فراوان به سويشان سرازير مي شد ،

اما این قوم فراموش نمودند که هر گاه قدر این عطای الهی را ندانسته و از کنار آن غافلانه و بی پروا عبور کنند و پشت به این نعمات نمایند و یا حتی از این دو وسیله سوء استفاده ابزاری صورت گیرد! ذاتی که یکی از نام هایش رقیب است و همه امور زندگی انسان را زیر نظارت بسیار دقیق و مدبرانه خویش دارد، به این حالت پایان داده و عطایای خویش را از کف مردمی که قدر ناشناسی و ناسپاسی نموده کشیده و دمار از روزگار شان بر آورده است {...فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ}[امّا آنان کفران نعمت خدا کردند ، و خداوند به خاطر کاري که انجام دادند ، گرسنگي و هراس را بديشان چشانيد (و نعمتها را از ايشان سلب گردانيد و بلاها بدانان رسانيد.

اهمیت و تاثیر امنیت در زندگی:

تاثیر امنیت را می توان از منظر های مختلف مورد بررسی قرار داد که ذیلاً به آن اشارات کوتاهی می شود.

-۱امنیت و عبادت:

عبادت یکی از نیازهای فطری بشریت است که بدون آن زندگی مفهوم نداشته و حسن واقعی آن متصور نیست. بنابر این برای ادای عبادات نیاز است تا وسایلی فراهم شود که در پرتو آن بتوان به این نیاز رسیدگی نمود، شاید بتوان وسایل گوناگون و مختلفی را در زمینه فوق معرفی نمود، اما مهمترین وسیله به نظر نگارنده (امنیت است) که با وجود آن می توان به این ندای فطرت لبیک گفت، در اسلام بسا از عبادات است که یکی از شرایط انجام آن وجود امنیت بوده و هر گاه این شرط موجود نباشد ادای آن عبادت نیز به تعویق افتاده ویا حتی بعضی از عبادتی در هنگام نبود امنیت به شکل کامل آن ادا نگردیده آنگاه که خوفی از ناحیه انجام آن احساس گردد. شاید مبالغه نباشد اگر ادعا کنیم که امروزه یکی از مشکلاتی که مردم متدین ما از ناحیه آن سخت رنج می برند و بر همه ابعاد زندگی شان سایه افگنده نبود امنیت است هستند کسانیکه با وجود حتی همجواری با مسجد بعضی از نمازها را به جماعت حاضر شده نتوانسته و بسیار نیز دلتنگ از دست دادن این امتیاز بزرگ اند.

-۲نقش امنیت در انکشاف عرصه های مختلف زندگی:

براستی سبب انکشاف خیلی از کشورهای که در دور و نزدیک کشور ما قرار دارند و ما را به نحوی ریزه خوار سفره خود در اکثر مسایل زندگی نمودند در چیست؟

جالب است که کشورهای مثل جاپان، پاکستان، ایران، کوریا... با عمر کوتاه صنعتی که دارند امروزه با ابر قدرت های بزرگ دنیا در عرصه های مختلف علمی، نظامی، و صنعتی رقابت های تنگاتنگ داشته، و با تولید محصولات شان چشم ها را بر خود خیره می نمایند! آنچه که مسلم است تمام پیشرفت های شان را می توان در این دید. آنگاه که از فضای بد و نامناسبی که ملت های شان بدان دچار شده بودند و سالهای درازی از قافله پیشرفت عقب مانده بودند، راه چاره یی را برای گریز از حالت فوق سنجیدند، و با تمام توان سعی در ایجاد امنیت برای دولت و ملت های خودشدند و صادقانه در آوردن صلح وامنیت اقدام کردند، و از نتایج آن خود و نسل های آینده شان بهره مند گردیدند.

-۳نقش امنیت در انکشاف علم و دانش:

علم و دانش یکی از نیاز ضروری بشریت است. و محال است که انسان بتواند نقش اصلی خود را در حیاتش بدون علم ودانش طی کند. یکی از عواملی که برای توسعه وانکشاف علم و دانش کمک بسزایی نموده و نقش موثری در آن دارد وجود امنیت است، اگر امروزه جامعه ما با فقر علمی در همه بخش ها روبرا ست و به نحوی جهل و بی سوادی در جامعه ما بیداد نموده و از ما قربانی می گیرد، عمده ترین عاملش همانا نبود امنیت به معنی واقعی است که سبب شده اگر ما کدرهای علمی نیز داشته باشیم بیگانه گان از فکر و اندوخته های علمی شان جهت منافع خود استفاده کرده که هیچ حاصلی را برای ما نداشته باشد، جالب است که امروزه امریکا مهد و یا مرکزی برای مغزهای متفکر علمی که از استبداد و نبود امنیت به آن پناه آورده اند قرار گرفته و از سرمایه ها و اندوخته های علمی آنان برای منافع و انکشاف صنعتی، و سلطه خویش در دنیا استفاده می نماید.

-۴نقش امنیت در توسعه اقتصاد و تجارت:

الله متعال سرزمین حرم را یکی از سرزمین های معرفی نموده که در آن انواع و اقسام نعمات موجود بوده، شاید یکی از حکمت هایش همانا وجود امنیت کامل بوده که این دو(رفاه اقتصادی و امنیت) با هم سازگاری تنگاتنگ دارند. الذی اطعمهم من جوع و آمنهم من خوف

امروزه یکی از چالش های عمده بر سر راه که سد راه رسیدن به رفاه اقتصادی جامعه ما شده و از هر طرف مشکلات اقتصادی، فقر، بیکاری، تورم سر سام آور کالاهای تجارتی، و نوسانات بازار اسعار را به همراه داشته، در حقیقت مشکل عمده آن بر می گردد به عدم امنیت در کشور که سبب شده خیلی از سرمایه از داخل به بیرون انتقال نموده و منافع آن به جیب دیگران سرازیر شود! امروزه چقدر از نیروی انسانی ما که به هدر نمی رود!

قسمتی از آن را بیگانگان به نحوی بسیار ساده و با قیمتی بسیار ارزان و توأم با تحقیر از آن استفاده نموده و قسمتی دیگر را با بهای اندک سرباز گیری نموده، که به ساده گی اجیر اهداف سوء دیگران و در خدمت آنان در می آیند! همه اینها بر می گردد به اقتصاد بی رونقی که بر همه ساحات زندگی ما اثرات نامطلوب خود را بجای گذاشته! براستی چقدر از زیر ساخت

های مهم اقتصادی در این کشور وجود داشته که منتظر جوی آرام است تا بوسیله آن بتوان قد علم نموده و وسیله ی برای مصروف بودن عده یی کثیری از هموطنان ما شده و بر پدیده شوم پریشانی که هر لحظه او را تهدید نموده نقطه پایان بگذارد.

راه حل در کجاست؟

به نظر بنده هیچ دردی در دنیا نیست که درمان به همراهش نباشد! و این یکی از سنت های الهی است و او تعالی خالق اضداد است. اگر تاریخ دقیقاً مطالعه گردد دیده می شود که بشریت همواره ناآرامی های مختلفی را پشت سر گذاشته و تجارب نهایت تلخی را نیز نموده است. و همین سبب شده که به فکر چاره کار بر آید، تلاش کند تا به هر نحو ممکن به تراژیدی هولناک ناامنی پایان دهد.

تجارب مختلفی در مورد باز گرداندن امنیت در فراز و نشیب های زندگی بشر وجود داشته و ثبت اوراق تاریخ گردیده، که بعضاً زودتر و گاهی دیرتر نتیجه اش را بر جای گذاشته. بنابراین هنگامیکه به فکر علاج آنیم باید داروی را جستجو نمود که درد را از ریشه درمان نموده و آثار از آن را محو و نابود نماید. یکی از بهترین شیوه ها که در طول تاریخ برای بشر پیشنهاد شده و آنگاه که آن را در زندگی پیاده نموده، در حقیقت و بطور کلی توانسته درد را بطور ریشه یی درمان نماید. توصیه ها و رعایت نمودن اصول و رهنمایی های سازنده دین بوده که همواره این مدعا را به اثبات رسانده {الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولَئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ} [أنعام: ۸۲]

یکی دیگر از راه های رسیدن به امنیت احساس جمعی و تلاش در راستای آوردن صلح و امنیت است، و در کنار آن داشتن باور و اخلاص به این نعمت الهی و نیاز بشری چراکه صلح و امنیت را کسانی می توانند تأمین کنند که به آن ایمان قوی داشته و خود را سخت نیازمند آن بدانند.

شاید بتوان یکی دیگر از عواملی که سبب می شود تا امنیت را در زندگی خویش حاکم گردانیم. احساس خطر از ناحیه دشمن مشترکی که کیان حیات مادی و معنوی ما را با تهدید جدی مواجه می سازد .یعنی باید اهرم های فشار را شناسایی نموده و از آن برای بهبود وضعیت و پایان دادن به آن استفاده کرد.

علامه ابوالحسن ندوی در کتاب گرانسنگ خویش حدود خسارت در جهان و انحطاط مسلمین می گوید برای آنکه بتوانیم وحدت و امنیت جهانی را برای ساکنان زمین ایجاد کنیم، نیازمند آنیم که دشمن فرضی را در دیگر سیارات برای اهل زمین فرض نموده آنگاه است که تلاش ها برای مقابله به آن، شکل جمعی بر خود گرفته و برای خاتمه دادن به بحران کار آغاز خواهد شد.

در نهایت برای آنکه بتوانیم صلح و امنیت را در حیات اجتماعی خویش بر گردانیم، اولاً باید به آن ایمان کامل داشته و در قدم دوم نقاط مشترکی که سبب می شود تا بر آن اتفاق نظر صورت گرفته و همه در محور آن جمع گردند شناسایی و برای تقویه آن گام های عملی برداشته شود.

هیوادنۍ مینه

رحیم الله (حریفال)

ام المومنین عایشه (رضی الله عنها) وایي: کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مدینې منورې ته ورسېد، هلته ابوبکر او بلال (رضی الله عنهم) سختې تبې ونیول، زه ورغلم او ورته ومې ویل: پلار جانه څنګه یې؟ او بلاله ته څنګه یې؟ عایشه (رضی الله عنها) وایي: چې ابوبکر (رضی الله عنه) به د تبې په وخت کې دا شعر وایه:

ژباړه: هر چاته په خپل کور کې سهار په خیر ویل کیږي، په داسې حال کې چې مرګی یې د څپلۍ له تسمې هم ورلنډ دی.

او وایي کله به چې د بلال حالت لږ ښه شو نو په خپل خواږه آواز سره به یې داسې ویل:
ژباړه: (کاشکې خبر وای چې کومه شپه په وادي (مکه) کې تیرولی شم او شاوخوا مې اذخر او جلیل بوټي وای او آیا کومه ورځ به مې د مجنۍ په چینه ګذر شي، او یا د شامي او طفیل غرونه به بیا ووینم.)
ام المومنین وایي: زه بیا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته ورغلم او له دې حال نه مې خبر کړ؛ نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: خدایه! په شیبه، عتبه او امیه لعنت وکړې، هغو dمونږ له خپل وطن نه د رنځونو ځمکې ته را وشړلو.

له وطن سره مینه د انسان په خټه او فطرت کې اغږل شوې ده. انسان چې په کومه خاوره او وطن کې ژوند کوي، هلته چې د ماشومتوب شاهانه شېبې تاریخ ته سپاري، هلته چې د ټول ژوند ښکلې له کینې او کرکې خالي وختونه تیروي او هلته چې خاپوړې کوي حتما به ورسره مینه لري.

هو د چا چې په وطن او خلکو زړه خوږېږي هغوی ورسره مینه کوي، هغوی یې په غمونو اوښکې تویوي او په خوښیو یې خوښي څرګندوي.

څوک چې له وطن او خاورې سره مینه لري، هغه بیا د خلکو او ولسونو په زړونو کې هم ځای لري، چې ښه بیلګه یې ارمان لرونکي او خاورې ته وفادار شاعران دي.

تل یې د وطن په دردونو ژړلي دي او دا مینه یوازې په ویلو سره په ثبوت نه شي رسیدلی، چې له هیواد او خاورې سره مینه لرم، بلکې دا به د زړه له تله وي کومه خبره چې له زړه نه وي هغه په نورو زړونو هم تاثیر نه کوي، که شاعران هم په زور شعر وایي هغه شعر یوازې شعار دی په نورو زړونو به هیڅکله هم اغیزونه کړي دا غږ به د زړه غږ وي.

درویش درانی وایي

چې بیا نه توره پورته شي نه سر په وینو رنګ شي
باداره دغه جنګ دې د وطن اخري جنګ شي

دلته د شاعر زړه دردیدلی دی شاعر نور له جنګ جګړو ستړی شوی دی، شاعر له خدایه غواړي چې دا دې زما د وطن وروستی جګړه شي.

شاعران خو د احساساتو او عواطفو په نړۍ کې ژوند کوي، چې احساس یې د ستایلو دی. زمونږ خاورې او هیواد، چې کومې بدې ورځې لیدلې او اوس یې هم وینې هغه یې هغه زامن دي، چې د سیاست ډګر ته یې دانګلي دي یو ډله یې د یو چا په پښو کې ور لویدلې ده او بله ډله یې بیا د نورو ډول ته نځیدلې ده.

او که له وطن او خاورې سره یې د مینې څرګندونه هم کړې ده، یوازې نمایشي وه او ده. کمونستانو هم په خوله له هیواد او خلکو سره د مینې د درلودلو درغجن شعارونه ورکول. راځئ چې د دې دروغجنې مینې یو څو بیلګې را وخلو:

تره کي او امين به په ډاګه دا خبره کوله چې: مونږ له (۱۷) ميليونه نفوس څخه يوازې يو مليون هغه خلک غواړو ها د دوی په اصطلاح چې انقلاب ته وفادار وي.

او کارمل به بيا اصلي افغان هغه څوک باله چې پر افغان شوروي دوستۍ به يې ويار کاوه. نجيب خپله غټه تنه او غټ سر په مسکو کې د لينين کبير بوت ته ټيټ کړ.

څواکونو او استخباراتو يې په لکونو بې ګناه انسان شهيدان کړل، په ميليونو يې له خپل ګران ټاټوبي څخه هجرت کولو ته اړ کړل. چې د ډيرو يې هډونه په پرديو وطنونو کې خاورې شول.

او ډيرې مينډې لا هم د خپلو ورکو زامنو راتګ ته د انتظار شپې شماري.

دا په ياد ولرئ هر هغه څوک چې غواړي د خپل وطن او خلکو لپاره کار وکړي هغوی به تر ټولو ړومبی له پرديو څخه بې نيازه کيږي په پرديو پورې به خپلې هيلې نه تړي له خپلو خلګو سره به مينه لري د خپل هيواد ملي شتمنی. او ګټې به ورته ارزښت لري، د خپل ولس د بهوزلو درناوی به کوي، هغه هم د زړه له تله که نه بيا به يې انجام د خلقي او پرچمي رفيقانو په څير وي. چې سترې سترې نظامي قواوې به يې ماتې خورې او هغه امپراطوري به يې چې په ټوله نړۍ يې د واکمنۍ خوبونه ليدل د ړې وړې کيږي.

هر ډله او حرکت چې دلته د اوږده مهال لپاره کار کول غواړي دې ټکي ته بايد په جدي توګه پاملرنه وکړي د خپلو څوانانو په زړونو کې له خلکو او وطن سره مينې ته ځای ورکړي او دې ته هم بايد متوجې واوسو، چې تاريخ به هره وړه او غټه جفا چې هر چا کړې وي ساتي او راتلونکي نسلونه به بيا د هيواد او خلکو دښمنان تر نن هم ښه پيژني.

تر اوسه چې مل او غل نه دی څرګند لا دلته جګړه روانه ده دلته لا تر اوسه هم خلک له جنګ نه دي وزګار دلته اوس هم هره ورځ وينې بهيږي خو دا په دې معنی نه دي چې ټولې جفاګانې به هيريږي او هرڅه به خلک د يوه ويرونکي خوب په څېر له ياده باسي راتلونکي نسلونه به تاريخونه لولي تحقيقات به کوي، سپين او تور به سره ببلوي دروغجنو او ريښتينو تر منځ به کرښې را کاږي.

مرکه

مرکه کوونکی: أبوعابد

د کندز د جهادي چارومسؤل ملا عبدالسلام بریالی له مورچل سره په مرکه کې:

ماته چې د دې ولایاتو داولس جهادي روحیه معلومه ده نو ویلې شم چې دوستم به هیڅکله ونه توانیږي چې خلک یوځل بیا تیرباسي او دخپلو اهدافو لپاره یې له مجاهدینو سره وجنګوي!

کندز دافغانستان په شمال کې موقعیت لري ،چې ختیځ ته یې تخار ، جنوب ته بغلان ، لویدیځ ته بلخ او شمال ته یې دګاونډي هیواد تاجکستان حدود پراته دي ، کندز ولایت چې ۸۰۴۰ مربع کیلومتره مساحت لري نفوس یې دوروستیو شمیرنو له مخې تر ۸ لکو زیات ښودل شوی دی.

کندز ولایت په مرکزي ښار سربیره د امام صاحب ، چاردرې ، قلعه زال ، علي اباد ، خان اباد او دشت ارچي په نومونو شپږ ولسوالي لري ، دکندز اوسیدونکي پښتانه، تاجک ، ازبک ، ترکمن ، ایماق او هزاره افغانان دي، دکندزولایت مرکز (کندز ښار) دی چې دافغانستان په شمال کې تر مزارشریف وروسته دوهم ستر ښار بلل کیږي.

ملا عبدالسلام بریالی چې دافغانستان په شمال کې له مخکښو جهادي څیرو څخه شمیرل کیږي،همدا اوس د کندز ولایت جهادي مسؤلیت په غاړه لري،دمورچل مجلې ددې ګڼې لپاره مو له نوموړي سره مرکه کړې چې ستاسو پام ورته راګرځوو.

پوښتنه

محترم بریالی صاحب له هرڅه وړاندې درته ښه راغلاست وایو ، که لومړی خپل ځان لوستونکو ته معرفي کړئ ؟

ځواب

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم امابعد : زه تاسو او لوستونکو ته خپل سلامونه اونیکې هیلې وړاندې کوم او د مرکې له بلنې مو مننه کوم.

زما نوم عبدالسلام دی د کندز ولایت د دشت ارچي ولسوالی. او سیدونکی یم او همدا اوس د اسلامي امارت ترقیادت لاندې د کندز ولایت د والي یا نظامي مسؤل په حیث جهادي دنده اجراء کوم.

پوښتنه

محترم بریالی صاحب که لومړی مهمې موضوع ته راشو، سږ کال په کندز کې د نظامي تحولاتو له اړخه یو انقلابي کال و، د کندز مطلق اکثریت سیمې د دښمن له شتون څخه پاکې شوې که په دې اړه د کندز د مرکز او ولسوالیو په رابطه معلومات راسره شریک کړئ چې د خیبر علمیاتو په لړکې په کندز کې کومې لاسته راوړنې ترګوتو شوي دي؟

ځواب

د دې لپاره چې په کندز کې د سږنیو لاسته راوړنو او مفتوحه سیمو تصویر تاسو تهښه واضح شي، زه به تر دې وړاندې د کندز حالت تاسو ته لومړی تشریح کړم.

څو کاله وړاندې چې امریکایانو او نورو یرغلګرو د داخلي ټوپکیانو سره په ګډه په کندز او ګڼو نورو ولایاتو کې داربکي سازي پروژه پیل کړه او دهغه لپاره یې سخت پوځي عملیات، بمبارونه او وحشت په کار واچاوو، د یرغلګرو د ډیر فشار له امله په کندز کې په اکثره سیمو اربکیان مسلط شول، تر دې چې د کندز د مرکز په مربوطاتو کې د بوز، کوچني کنم او باباجان له کلیو پرته نورې ټولې سیمې اربکیانو لاندې کړې، د چهاردري، امام صاحب، قلعه زال او نورو ولسوالیو تقریبا ټولې سیمې د دښمن تر تسلط لاندې راغلې په کلیو کې یې داربکیانو پوستې ځای په ځای کړې او مجاهدین مجبور و چې یوازې چریکي فعالیت ته ادامه ورکړي.

مګر د سږکال په اوږدو کې لله الحمد په کندز کې داسې یو جهاد تحول راغی چې مطلق اکثریت سیمې فتحه او د دښمن ټغر له ټولو اطرافي سیمو ټول شو.

مثلا د کندز د مرکز په مربوطاتو کې د شرق خواته لوی کنم، ګاړي، کهنه قشلاق، بوته کشان، قاري ناصر، خزاني، سازي، شاخ کونړي، حضرت سلطان، دوراهي، سي دوکانه قلعه جای، کټه خیل، چارګذر، جورګذر، سنزیی، ملرغي

، نویان او ګڼې نور پراخ کلي داربکیانو له وجوده پاک شول او د مجاهدینو په تسلط کې راغلل.

د غرب خواته د ګورتیپې سیمه چې خورا ستره علاقه ده او ګڼ کلي په کې دي مکمله ازاده شوه، دشار په نورو اطرافو کې هم د دښمن پوستې او شتون له منځه لاړ او د دښمن واک یوازې د کندز ښار تر دروازو پورې محدود شو.

چاردره ولسوالی. چې پخوا یې ټول کلي داربکیانو د پوستو تر پوښښ لاندې و او مجاهدینو پکې یوازې چریکي فعالیت کولای شوای، اوس یې ۹۵ فیصده خاوره د دښمن له شتون څخه تصفیه شوې او د مجاهدین په تسلط کې راغلې په دې ولسوالی. کې داربکیانو لسګونه پوستې له منځه تللي دي همدا

اوس په چاردره کې يوازې دولسوالی مرکز، ترکنډۍ غځيدلی سړک او دسړک بالا يو څه حصه کې دښمن وجود لري نوره دا ولسوالي ازاده ده.

ارچې ولسوالي چې پخوا په کې مجاهدين يوازې په لس فيصده سيمه واکمن و د فتوحاتو په نتيجه کې يې اوس ۹۵ فيصده علاقه دمجاهدينو تر واک لاندې راغلې او يوازې مرکز کې يې دښمن شتون لري.

امام صاحب ولسوالي چې پخوا په کې مجاهدين چريکي اوسيدل او مکمله د دښمن په لاس کې وه اوس يې ۲۰ فيصده سيمې له دښمن څخه پاکه شوې ده دغسې په خان اباد، علي اباد او قلعه زال کې هم مجاهدين قوي شتون لري عمليات يې جاري دي او ځيني سيمې يې هم په واک کې دي

لږ تفصيل ته په پام سره ويلی شو چې سړکال په کنډز کې بيساري فتوحات رامنځته شوي دي او د دښمن داربکي سازي پروژه چې ډير مصارف يې هم ورباندې وکړل تقريبا له منځه تللې ده.

پوښتنه

که دا راته وواياست چې په دې عملياتو کې يوازې له دښمن څخه سيمې تصفيه شوي دي، که د دښمن افراد هم وژل شوی دي؟

ځواب

د سړکال عمليات چې په څو مرحلو کې ترسره شول، په کنډز کې د خپل شکل تر ټولو ستر عمليات و چې په سلګونو مجاهدينو په يوه وار په کې شرکت کاوو، په دې عملياتو کې هر ځل دښمن ته د سر او مال درانه زيانونه هم رسيدل، د دښمن لسګونه اربکيان مړه او ټپيان شول يو شمير يې تسليم شول او لوی مقدار اسلحې او مهمات يې مجاهدينو په غنيمت ونيول

پوښتنه

هغه کوم عوامل و چې په کنډز کې د مجاهدينو سړې عمليات دومره بريالي شول؟

ځواب

اصل کې خو مور په دې ايمان لرو چې دنيايي تصرفات او تحولات ټول د الله تعالی په اراده رامنځته کيږي، مجاهدين که کوم فتوحات کوي هم زمور دا عقيده ده چې اساسي علت يې د الله تعالی نصرت دی، د الله تعالی د نصرت او مرحمت د نزول لپاره مجاهدينو ته لازمه ده چې داسې کارونه وکړي چې د الله تعالی د رحم او نصرت وړ وګرځي.

په کنډز کې سړکال د مجاهدينو ترمينځ ډير ښه خپل منځي اتحاد او همکاري موجوده وه، تر دې چې د مختلفو ولسوالیو مجاهدينو په اتفاق سره عمليات کول او په سلګونو مجاهدين به په يو ځای عملياتو ته راغونډيدل، بله دا چې د عامو مسلمانانو زړه هم له مجاهدينو سره و، عامو مسلمانانو له مجاهدينو سره دومره همکاري درلوده چې د مرکز مربوط د لوی کنم په سيمه کې خو عام خلک د عملياتو په ورځ د اشر په ډول راووتل او د مجاهدينو سره يې د دښمن په له منځه وړلو کې همکاري وکړه، د مجاهدينو

مکمل اکمالات یې کول حتی د جګړې په وخت یې ورته ډوډۍ او پخې شوې غوښې رسولې او د وسلو او مهماتو له مرستې یې هم مخ نه اړاوو ، لکه الله تعالی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته فرمایلي: هوالذی ایدک بنصره و بالمؤمنین. دلته هم الله تعالی په عامو مؤمنانو د مجاهدینو نصرت وکړ، نو دې ته په پام سره زه ویلی شم چې د مجاهدینو اتفاق او اتحاد او د عامو مسلمانانو سره ښه مخلصانه تعامل او هماهنګي برکت و چې مجاهدین د الله تعالی د نصرت وړ وګرځیدل، ترڅو بالاخره د الله تعالی د نصرت په برکت له دې ولایت څخه د اربکیانو لمن تړله شوه.

پوښتنه

په کندز ولایت کې که د دعوت وارشاد، محاکمو او معارف د فعالیتونو په اړه معلومات راسره شریک کړئ ، مننه وی به مو یو ؟

ځواب

د دعوت او جلب وجذب کار په کندز کې ماشاءالله ډیر ښه روان دی، د سړکال لاسته راوړنو کې د دعوت هم ښه رول و ، سړکال چې د کندز له ډیری سیمو د اربکیانو ټغر تولیدونو په دې کې اکثره پوستې په نظامي عملیاتو وتیول شوې، یوشمیر نورې یې د اسلامي امارت د دعوت او عفوې له پروګرام نه په استفاده تسلیم هم شوې مثلا د مرکز مربوط د ګورتیپې په سیمه کې څلور پنځه پوستې اربکیان مجاهدینو ته تسلیم شول او خپلې وسلې یې مجاهدینو ته وسپارلې په چهاردره کې هم څلور پوستې مکملې تسلیم شوې، دغسې په نور سیمو کې هم خال خال د دښمن افراد تسلیم شوي دي او دا لړۍ لا هم جریان لري.

د اسلامي امارت قضایي نظام هم په کندز کې په ټول نظم او ترتیب فعال دی، مورکندز د ابتدایي محاکمو په برخه کې په دریو برخو ویشلی دی چې یوه ابتدائیه محکمه د مرکز او خان اباد لپاره ، بله د امام صاحب او ارچي لپاره او دریمه د چهاردرې ، علي اباد او قلعه زال لپاره ده ، چې عام خلک ورته د خپلو مسائلو په رابطه مراجعه کوي او خلک یې له کارونو راضي دي.

د معارف مربوط کارونه په کندز کې له پخوا څخه په ښه طریقه روان دي ، د اچې د دښمن تبلیغات کوي چې مجاهدین د معارف بنسټونو ته تاوان رسوي باید ووایم چې د اسلامي امارت د رسمي پالیسي سره سم مجاهدینو په کندز کې هیڅکله ښوونځیو ته زیان نه دی رسولی.

په کندز کې د تعلیم او تربیې د کمیسیون لخوا د ښوونځیو او مدارسو ښه نظارت کیږي، په دې برخه کې د معارف د کارونو د پرمختګ لپاره ښې غونډې جوړې شوي او له کړنو څخه یې عام خلک هم ډیر راضي دي.

پوښتنه

څه موده وړاندې دافغانستان د شمال لوی جګړه مار رشید دوستم چې اوس د اشرف غني مرستیال دی اعلان وکړ چې شل زره کسیزه ملیشه به جوړه کړي او په شمالي ولایاتو کې به له مجاهدینو سره جګړې وکړي ، تاسو دنوموړې ددې خبرې په اړه څه تبصره لرئ ؟

ځواب

رشید دوستم لکه څنګه چې ټولو ته معلوم دی دیر غلګرو مشهور غلام او دافغان اولس ستر قاتل دی،نوموړی چې پخوا د روسانو اجرتي قاتل و اوس د امریکایانو تر څنګ ولاړ دی،نوموړي هرځل هڅه کړې چې دبهرنیو اشغالګرو لپاره مسلمان اولس قتل کړي،چې له همدې امله یو له منفورو څیرو څخه دی.

نوموړی اوس په ټول افغانستان او شمالي ولایاتو کې دومره منفور دی،چې ډیر لږ کسان به یې هم په خبره عمل ونه کړي. دنوموړي لخوا د ملیشه جوړونې لاپې یوازې د تبلیغاتي جنګ د ګرم ساتلو لپاره کیږي،هغه ولایات چې دوستم پخوا د خپلې ملیشې د سربازګیري لپاره تر ې استفاده کوله اوس یې مطلق اکثریت سیمې دمجاهدین په ولکه کې دي،دافغانستان په شمال کې کندز، تخار،فاریاب، سرپل،جوزجان او نور ولایات د مجاهدینو قوي مراکز دي او عام اولسونه یې په تینګ تعهد د اسلامي امارت ترڅنګ ولاړ دي.

ماته چې ددې ولایاتو د اولس جهادي روحیه معلومه ده نو ویلی شم چې دوستم به هیڅکله ونه توانیږي چې خلک یوځل بیا تیرباسي او دخپلو اهدافو لپاره یې له مجاهدینو سره وجنګوي، ددوستم اوده غوندې دیر غلګرو د نورو ملګرو وروستی وس همدا د اربکي سازي پروګرام و چې هغه هم له سخت شکست سره مخامخ شو او اوس د یومخیز له منځه تلو په حال کې دی.

پوښتنه

په کندز کې د مجاهدینو د تلفاتو دغه راز د عامو ملکي خلکو د تلفاتو په اړه که معلومات راکړئ ، دملکي خلکو دتلفاتو موضوع اوس په یوه مهمه موضوع اوښتې او دښمنې رسنۍ ډیر تبلیغات کوي چې د مجاهدینو په سیمو کې ملکي خلکو ته روزانه ډیر زیانونه اوړي آیا په کندز کې په تیر کال کې دمجاهدینو لخوا ملکي خلکو ته کوم زیانونه اوښتي دي ؟

ځواب

د مجاهدینو دتلفاتو په اړه خو به ووایم ، چې لله الحمد په اوس وخت کې دمجاهدینو تلفات ترټولو ټیټې سطحې ته رابښکته شوي دي، پخوا مجاهدینو ته ډیر تلفات د دښمن په ناڅاپي چاپو کې رسیدل،اوس دغه چاپې یومخ کمي شوي دي،په تیرو څو میاشتو کې یوازې یوځل په چاردره کې خارجیانو یوه چاپه وهلې، چې له هغه سره هم مجاهدینو جنګ وکړ دښمن ته یې دروند زیان ورساوو او

څوکلاکوف توپک يې ترې غنيمت کړل، له هماغې پېښې وروسته بيا چاپه نه ده وهل شوې، دغه راز د دښمن ډرون حملې هم د پخوا په نسبت بيخي کمې شوې دي.

د ملکي خلکو د تلفاتو په اړه به ووايم چې رښتيا هم نن سبا د دښمنو رسنيو لخوا دا موضوع ډيره يادېږي او مجاهدينو د ملکي خلکو په وژلو تورن بلل کيږي، خو بايد روښانه کړم چې له دې موضوع څخه تر ډيره تبليغاتي استفاده کيږي، په واقعيت کې حالت داسې نه دی لکه رسنۍ يې چې راپورونه ورکوي، د کندز په سطحه که ووايم چې د جهادي عملياتو يوه ګرمه سيمه ده په تيرو ټول کال کې يوازې يو ځل د مجاهدينو يو موټر سايکل بم اشتباها په ملکي خلکو منفجر شوی چې ملکي کسانو ته په کې مرګ ژوبله اوښتې له همدې يوه مورد پرته بله هيڅ د ملکي تلفاتو پېښه نه ده رامنځته شوې.

خو له دې سره سره مجاهدينو ته همېشه په توصيو کې ويل کيږي چې د ملکي خلکو ژوند ته بايد ډېر پام وکړي ځکه زموږ د جهاد يو هدف د مسلمان اولس خوندي کول دي چې بايد ضرر ورته ونه رسيږي.

پوښتنه

محترم ملا عبدالسلام بريالی صاحب !

ستاسو له توضيحاتو ډيره مننه په پای کې که کومه خبره اضافه کول غواړئ، يا کوم پيغام لرئ مهرباني وکړئ؟

ځواب

بله داسې خبره نه وه ، يوازې نن سبا ځينو رسنيو دا اوازې ګرمې کړې چې دهيواد په شمال کې خپلسري وسلوال پيدا شوي دي چې د اسلامي امارت اوامر نه مني، بايد واضحه کړم چې په ټولو شمالي ولايتو خصوصا کندز کې چې څومره مجاهدين دي ټول د اسلامي امارت تر مشرۍ لاندې د اطاعت او تعهد په چوکاټ کې جهادي عمليات پرمخ وړي، د اچې د دښمن د جهادي صف د تفرق خبره کوي دا خبره زه په ټينګه ردوم او هيڅ جزئي رښتينوالی هم نلري.

پيغام مې مجاهدينو ته دادی، چې لومړی خو بايد خپل اتحاد وساتي، د مجاهدينو اتحاد او اتفاق هغه څه دی چې د الله تعالی د نصرت سبب ګرځي، لکه وړاندې مې چې يادونه وکړه سر په کندز کې مورد د اتحاد او اتفاق عملي برکات وليدل چې زيات فتوحات مو په برخه شول.

بله داچې مجاهدين بايد د اسلامي امارت د مشرتابه او خصوصا امير المؤمنين حفظه الله اطاعت وکړي، دغه امارت چې شل کاله يې د باطل په مقابل کې مبارزه کړې او امتحان يې ورکړی دی د الله تعالی يو لوی نعمت دی بايد د دې نعمت قدر وپېژنو او وفا ورسره وکړو.

مجاهدينو ته مې وروستی توصيه داده چې له عامو خلکو سره ښه ګوزاره وکړي، تر څو له مجاهدينو مايوسه نه شي

داسلامي تهذيب څوغوره بيلګې

(دوهمه برخه)

م عبدالصمد سيال

سم الله الرحمن الرحيم

دعقائدو، عباداتو ، احکامو ، اخلاقو ، معاملاتو ، ادابو ، اوعاداتو کې داصلاحاتوراوستونکی ، ښوونکی اومعلم دالله تعالی له لوري په مکه مکرمه کې هغه مهال راڅرګندشو چې خلکو دجهالت په رسۍ پوري خپلې منګولې ټينګې کړې وې ، دهغه صلی الله علیه وسلم ژوند سر ترپایه تعلیم اوتربیه وه ، په لمړي سر کې يې خلکو ته دتوحيد اورسالت سبق پيل کړ ، کله چې خلکو توحيد اورسالت ومنل نو ورپسې يې عبادات ، احکام ، اخلاق ، ادب و داجتماعي اوانفرادي ژوند تېرولو ټول اصول اوقوانين وروښودل ، چې په اسلامي شريعت کې هره يوه خبره چې ورته اړتيا وه بيان شوه .

درنو لوستونکو! په ننې دور کې لکه څرنګه چې موږ عباداتو کې کمزورې زياته شوې ده ، همداراز مو دالله تعالی اودنبي کريم صلی الله عليه وسلم هغه ښووني هم شاته غورځولې دي چې دخوراک ، څښاک ، ناستي پاستي او دژوند په ټولواړخونو کې يې راته بيان کړې دي .

په اوس مهال کې خلک ديرې دي تمدن (يهوديت اونصرانيت) تراغيزې لاندې دي ، ،غربيان اونورو دډيمو کراسۍ مورېدان يې خپل مقتدايان جوړ کړي ، زمانه آند ددې يوستر لامل دادی : چې مسلمانان دالهي دين اودخپل پيغمبر له هدايتو اواصولو ناخبره پاتې دي ، نو غواړم چې له قرآن کريم اودرسول الله صلی الله عليه وسلم له احاديثو څخه يوځوښلګې رانقل کړم چې تريوه حده خبرشو چې اسلام د ژوند اوغوره ټولنې دتهذيب پرلور څومره ډېرنظر کړی .

۱= الله تعالی فرمايي : وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (۱۱)

. الحجرات

ژباړه : تاسو يوبل ته په بدو نومونو مه وياياست ، له ايمان څخه وروسته ترټولو بدنوم دفسق دی ،اوکه څوک له دغې ګناه توبه نه کړي نوهغوئ ظالمان دي .

يعني په بدو لقبونوسره يادول لويه ګناه ده ، وګورئ ! په دې آيت شريف کې دمسلمانانو دعزت دخوندي توب په ړه الله تعالی امر کړی ، ځکه چې په بدو لقبونوسره يوبل يادول دانسان آبرو اوعزت له منځه وړي .

۲= همداراز الله تعالی فرمايي : لايسخر قوم من قوم

ژباړه : تاسويوقوم په بل قوم مسخري مه سره کوئ !

ځکه چې په مسخرو کولو سره دهغه قوم تحقير کول کيږي ، اوالله تعالی دمسلمان تحقير اوبې عزتي نه خوښوي

درسول الله صلی الله عليه وسلم په احاديثو کې راځي :

۳= رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : مجلسونه امانت دي

د رسول الله د مینې په اړه د حافظ امام الذهبي وینا

حامد افغان

امام الذهبي رحمه الله (پیدا: ۶۷۳هـ / ۷۴۸هـ–مړ: ۱۲۷۴م / ۱۳۴۸م) په خپل ښایسته کتاب (سیر الاعلام النبلاء) کې د مشهور تابعي عَبیدة السلماني رحمه الله په ژوندلیک کې کاږي یوه سړي عبیده ته وویل: زمونږ سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم څو وښتان ایښي دي، عبیده ورته وویل: که زما سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو وښته هم وی نو د ځمکې پر مخ له ټولو سپینو او سرو زرو به راته ګران و. امام الذهبي رحمه الله د عبیده السلماني په دې خبره باندې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د مسلمانانو د مینې په معیار ښکلې او په زړه پورې خبرې کړې دي، دلته یې کتمټ درته پښتو کوم.

امام الذهبي رحمه الله لیکي: د عبیده دا خبره د مومن د پوره مینې معیار ده، د مومن په نزد به د رسول الله صلی الله علیه وسلم وښته د نړۍ له ټولو سرو او سپینو زرو غوره وي، دا امام (عبیده) پنځوس کاله له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته دا خبره کوي، که مونږ ته په کره توګه ثابته شي چې دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم وښته دی نو مونږ به څه وایو؟ او یا د هغه د چپل تسمه یا د نوک ټوټه یا د هغه د څښاک لوښی؟.

که یو شتمن د دې شیانو په ترلاسه کولو خپله ډېره شتمني ولګوي نو هغه به مبذر، بدخرڅه یا ساده بلل کیږي؟ نه، هیڅکله نه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم چې پخپلو لاسونو کوم جومات جوړ کړی ده د هغه د زیارت له پاره سفر وکړه او په دې لاره کې خپلې پیسې ولګوه، د هغه زیارت ته ځان ورسوه او سلام ورته وکړه، د هغه ښار (مدینه منوره) ته سفر وکړه هغه ځایونه وګوره چې دی په کې ګرځیدلي و، د احد غره ته ورشه او د هغه له لیدلو خوند واخله. هغه احد چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم ګران و، ته تر هغو پوره مومن نه شې کیدلی څو دا ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم تاته له خپله ځانه، اولاده، شتمنیو او ټولو خلکو در ګران نه شي.

مکې ته ولاړ شه او د طواف په مهال حجر اسود ښکول کړه، په هغه خوله کیږده ځکه په دې کې شک نشته چې هغه د انسانانو سرخیل صلی الله علیه وسلم ښکول کړی و. او په هغه یې مبارکي شوندې ایښې وې، تر دې به بله لویه د فخر خبره وي چې هغه په کوم ځای خپلې مبارکي شوندې ایښې وي او ته هم هغلته خپلې شوندې کیږدې؟!!. ثابت البناني رحمه الله (مړ څه باندې ۱۲۰هـ) مشهور تابعي او د انس بن مالک شاګرد دی، کله به یې چې انس بن مالک رضي الله عنه ولید له لاسه به یې ونیو، د هغه لاس به یې ښکول کړ او وبه یې ویل: دا هغه لاس دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لاس سره لګیدلي دی.

د امام الذهبي رحمه الله له خبرو نه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د ده مینه معلومولی شو. ځکه خو ده خبرې د مومن په زړه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مینه په ځیو کوي او دې ته یې اماده او چمتو کوي چې سمدستي د مدینې په لور سفر ته ملا وتړي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم مینه د هر مومن نر او ښځې ایمان تکمیلوي، د هغه په سنتو او لارښوونو عمل کول او د هغه اخلاق خپلول له هغه سره د رښتیني مینې ثبوت ده.

امام أبو حنيفه رحمه الله

ليکوال: استاد عبد الوکيل محمد شعيب

دجرح او تعديل دعلماوو په نظر کې

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على إمام الأئمة والأنبياء والعلماء والصالحين، نبينا محمد وعلى آله وصحبه ومن سار على نهجه واقتفى أثره إلى يوم الدين وبعد !

په زماني لحاظ د امام صاحب او زمونږ تر مينځ ډيره لويه فاصله ده، ځکه چه ديارلس سوه کاله وړاندې تير شوی، خو په فکري لحاظ نن هم په ملياردونو مسلمانان د امام صاحب سره تړلي او دهغه دفکر پيروان دي،(ذلک فضل الله يؤتيه من يشاء). خو دا هم بايد ووايم چه زمونږ نه ډير داسې شته چه د دغه ستر شخصيت باره کې غير د نوم نه نور هيڅ نه پيژني، او له بده مرغه بعضې لا بيا په دغه شخصيت ډول ډول تورنه لګوي، او ډير سپک نظر ورته کوي.

دغه يو خو وجې وې چې زه يې ديته مجبور کړم چه په امام صاحب باندې يوه مختصره ليکنه او په عين وخت کې جامع ليکنه وکړم ما دخپل وسع مطابق کوشش کړی خو کيدای شي دغه کوشش نيمګړی وي، ځکه چه انساني کوشش وي نيمګړی، او کمال خو صرف الله تعالى ته ثابت دی او دعصمت خاوندان انبياء عليهم السلام دي. او داچه دغه ليکنه دعوامو لپاره نده نو په همدې خاطر ما عربي نصوص او اصطلاحات په کې ندي ترجمه کړي ځکه چه علماؤ ته يې د ترجمې ضرورت نشته

د موضوع مهم ټکي:

- ✓ د امام ابو حنيفه رحمه الله لنډه پيژندنه
- ✓ د امام ابو حنيفه رحمه الله فضيلت
- ✓ د امام ابو حنيفه رحمه الله باره کې تعديل او توثيق
- ✓ د امام ابو حنيفه رحمه الله باره کې جرحه
- ✓ د جرح او تعديل د تعارض د ضوابطو په رڼا کې د تعارض ختمول

- ✓ د امام صاحب باره کې دجرحې اساسي عوامل
- ✓ د پورتني تحقيق نه وروسته، د حديثو په ميدان کې دامام صاحب حکم
- ✓ په امام صاحب باندې د اوسنۍ زمانې جارحينو ته زما توصيه

اوله نقطه ده: د امام ابو حنيفه رحمه الله لنډه پيژندنه

نوم او نسب: نوم يې نعمان ؤ د ثابت ځوی ؤ او د نعمان لمسی ؤ او د زوطا کړوسی ؤ ، او زوطا په مرزبان مشهور ؤ، او مرزبان د اهل فرس په اصطلاح کې قومي مشر ته وايي. امام صاحب په ابو حنيفه مشهور ؤ دا په دې خاطر نه چه دهغه لور حنيفه نومیده دهغه خو صرف يو بچی ؤ چه حماد نومیده، خو په دې خاطر چه دده يو د رنګ بوتل ؤ چه د عراق په لهجه کې ورته حنيفه وايي، هغه به يې د ډيرو ليکلو په وجه ډير استعمالولو نو په ابو حنيفه مشهور شو. او دی د بني تيم الله بن ثعلبه قبيلي په ولاء کې ؤ ، امام ابو جعفر الطحاوي په مشکل الاثار کې په خپل سند دامام صاحب نه روايت کړی

(مشکل الاثار (۴/۵۴))

چه دا ولاء دموالاتو ولاء وه د عتق او يا داسلام ولا نه وه.

ولادت وفات او نسبت: په ارجح قول امام صاحب په کال ۸۰ وم هجري کې د عبد الملک بن مروان په خلافت کې په کوفه کې پيدا شو، او په کال ۱۵۰ هجري دابو جعفر منصور په خلافت کې چه منصور دقضاء دنه منلو په وجه بندي کړ او هم يې تعذيب کړ نو مريض شو اوبيا په بغداد کې وفات شو. دمحدثينو دطبقاتو په حساب امام صاحب د شپږمې طبقې دحديثو راوي ؤ ځکه چه د کشرانو تابعينو دجملې څخه ؤ، امام صاحب اصلاً عجمي ؤ اکثره د تراجمو علماء ليکې چه پلار او نيکه يې د کابل نه کوفې ته تللي ؤ.

زدکړه استاذان او شاګردان: امام صاحب لکه دنورو علماؤ په څير په ډير ماشوم توب کې قرآن کريم او بعضې ضروري علوم ياد کړه ، او بيا يې هغه وخت خپل پوره عمر علم ته وقف کړ چه امام الشعبي عامر بن شرحبيل ورته دعلم توصيه وکړه ځکه چه د ذکاوت نښې يې په کې ليدلې وې. او د تفقه لاريې هغه وخت اختيارکړه چه د وينځې دطلاقولو باره کې تري يوې ښځې پوښتنه وکړه او دی دهغې نه عاجز شو او ښځې بيا دحماد فقيه نه جواب راوړو ،(و هغه داسې ؤ چه يو طلاق به ورته په طهر کې ورکړي اوبيا يې چه دوه حيضه نور تيرکړه بل ميړه ته حلاليږی.)

نو له همدې کبله امام صاحب له همغې ورځې څخه فقه شروع کړه چه عمر يې لا ۲۵ کلنۍ ته نه ؤ رسيدلی، او دحماد شاګرد شو ، او کله چه حماد دځه وخت لپاره بصرې ته لاړو نو امام صاحب ته يې وويل چه ته زما پر ځای مفتي شوې ترهغې چه زه واپس شم، او کله چه بيا حماد په ۱۲۰ هجري کې وفات شو نو امام صاحب د کوفې دعلماؤ په اتفاق دحماد دمجلس استاد شو. امام صاحب په سلګونو

استاذان درلودل چه څه يې امام سيوطي په تبيض الصحيفه کې ذکر کړي، چه په استاذانو کې يې شعبي، حماد بن أبي سليمان، حسن البصري، عطاء بن أبي رباح، ابراهيم النخعي، نافع مولى ابن عمر، ابن شهاب الزهري، او داسې نور ډير زيات چه يوه جمله صحابه يې هم ليدلي ؤ او روايت يې ورنه کړی ؤ، چه د هغوی څخه انس رضي الله عنه ؤ چه په کوفه کې يې وليده، او عبدالله بن الحارث بن جزء الزبيدي يې په حرم کې ليدلی ؤ او د عبدالله بن ابي اوفى رضي الله عنه نه يې مشهور حديث اوريدلی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: من بنى لله مسجدا ولو كمفحص قطاة بنى الله له بيتا في الجنة امام صاحب همدارنګه ډير زيات شاګردان لرل چه د هغوی دجملې څخه: امام محمد بن الحسن الشيباني امام ابو يوسف يعقوب بن ابراهيم، امام عبدالله بن المبارک، امام زفر بن الهذيل، امام حمزه الزيات، امام مكي ابن ابراهيم، او په زرګونو نور. (سير اعلام المحدثين للشيخ رمزي(ص/۱۰۶...)

✓ دوهمه نقطه: د امام ابو حنيفه رحمه الله فضيلت:

د امام صاحب د فضيلت باره کې څو تکي ډير مهم دي چه هغه په لاندې توګه دي:

۱-امام صاحب په خير القرون کې ؤ ۲-امام صاحب تابعي ؤ ۳-امام صاحب يو لوی مجتهد ؤ ۴-امام صاحب يو بنسه محدث ؤ او هم د جرحې او تعديل درومبنيو علماؤ څخه ؤ.

د پورتنيو تکو د تفصيل نه مخکې يو حديث ذکر کوم چه امام بخاري او مسلم د أبو هريره نه روايت کړی او امام طبراني د قيس بن سعد او همدارنګه د عبدالله بن مسعود نه روايت کړی ټول فرمايي چه رسول الله فرمايلي: (لو كان العلم عند الثريا لتناوله رجال من ابناء فارس). او په بل روايت کې (لو كان الايمان عند الثريا لتناوله رجال من ابناء فارس) امام سيوطي رحمه الله د دې حديث لاندې فرمايلي: چه دا يو صحيح اصل دی چه اعتماد پرې کيږي په ابو حنيفه باندې د رسول الله دزيږي، او همدارنګه دابو حنيفه فضيلت ثابتوي.

د مخکنيو تکو تفصيل:

اول: دا چه ابو حنيفه په خير القرون کې ؤ نو د بخاري صحيح حديث دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (خير الناس قرني ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم)

دوهم: دا چه امام صاحب تابعي ؤ او د بعضې اصحابانو د ليدو او روايت شرف ورته حاصل ؤ، نو د تابعينو باره کې الله پاک په سورة التوبه کې فرمايلي: (وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ) او عبد بن حميد په خپل مسند کې د ابو سعيد الخدري نه روايت کړی چه رسو الله فرمايي: (طوبى لمن رآني او لمن رآى من رآني او لمن رآى من رآى من رآني)

دريم: دا چه امام صاحب مجتهد ؤ، نو په دې تکي کې اختلاف د علماؤ نشته، او مخکې مو وضاحت کړي چه د حماد فقيه د وفات نه ورسته په کوفه کې

دابو حنیفه جوګه بل څوک نه ؤ، همدا وجه وه چه افتا ته کیناست او دحماد شاګردان او دکوفې علماء پرې راټول شول او ددې هرڅه دپاسه لا نور هم ګورو چه په امام صاحب څومره زیاتو ثقاتو علماؤ اعتماد وکړ او دهغه دمذهب تابعداران شول.

څلورم: دا چه ابو حنیفه محدث ؤ نو ددې باره کې څو وضاحتونه کوم:

• طبیعي خبره ده چه أبو حنیفه محدث ؤ او هغه ځکه چه زمونږ دزمانې یو فقیه ته په سلهاو أحادیث یاد وي او پرې پوهیږي، نو دا طبیعي خبره ده چه دتابعینو دزمانې مجتهد ته به زمونږ دزمانې فقیه نه ډیر أحادیث یاد ؤ، او بله دا چه مجتهد ته په کار ده چه کم نه کم د احکامو أحادیث چه تقریباً ۴۰۰۰ خوا او شا په مقدار کې دي یاد وي، او دا ممکنه ده چه دهغې زمانې یو ستر محدث او مجتهد به وي خو روایت به ورنه کم شوی وي، نو کم روایت ددې دلیل نه دی چه هغه فقیه نه دی، مونږ ګورو چه أبوبکر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د بعثت د اولې ورځې نه تر وفات درسول الله پورې موجود ؤ خو مکرم أحادیث یې ټول سل خوا او شاه جوړیږي چه روایت شوي ورنه امام مالک چه دامام صاحب د وفات نه ۲۹ کاله وروسته هم وفات شو او دهارون الرشید په خلافت کې هم ۹ کاله پاتې شو، چه په دغه وخت کې دعلم ازدهار وشو او وسایل یې زیات شو، او ۴۰ کاله یې د خپل کتاب موطأ په لیکلو تیر کړل خو بیا هم تقریباً ۲۰۰ أحادیث یې په کې روایت کړل.

• دکتور مصطفی سباعي په خپل کتاب (السنة ومكانتها في التشريع الإسلامي) کي لیکلي: چه امام أبوبکر ابن أبي شیبه په خپل مصنف کي دامام أبو حنیفه هغه مسایل چه د أحادیثو سره مخالف راغلي ذکر کړي چه ټولې ۱۲۵ مسلې دي، سباعي صاحب وایي چه ددې معنی داده چه ددې نه علاوه نور مسایل یې دأحادیثو سره موافق دي، او په أرجح قول دغه مسلې ۸۳ زرو ته رسیږي. نو ۱۲۵ د ۸۳ زرو په مقابل کې هیڅ هم نه دي، بله خبره داده که څوک د امام زیلعي کتاب (نصب الرایه) او یا د امام مرتضی زبیدي کتاب (عقود الجواهر المنیفه في أدلة مذهب الامام أبي حنیفه) او د أبو جعفر الطحاوي کتاب (شرح معاني الآثار) وګوري نو هغه ته په ډاګه پته لګیږي چه دامام صاحب مذهب څومره په صحیحو أحادیثو ولاړ دی او څومره مسایل د امام صاحب د أحادیثو سره موافق دي. د امام صاحب زمانه د رسول الله صلی الله علیه وسلم زمانې ته نزدې وه هغه وخت کې د امام صاحب لاس رسی سنتو ته اسان ؤ البته امام صاحب د ډیر احتیاط نه کار اخیسته ځکه چه په هغه وخت کې ګمراه فرقو دروغ مروج کړي ؤ او په رسول الله پسې یې ټرل.

او دا خبره هم غلطه ده چه بعضې خلک یې کوي چه أبو حنیفه د قیاس او عقل نه دمسلو په جواب کې کار اخستلو، دا څنګه قیاس دی چه د اتیازره نه پورته مسلو کې دحدیثو سره موافق خیژي؟ ددې خو لا په هغه وخت کې امام صاحب وضاحت کړی

دی، امام مرغینـاني په خپل سند د عبد الله بن مبارک نه روایت کړی فرمایي: کله چه أبو حنیفه حج ته لاړو نو په مدینه کې د أبو جعفر محمد الباقر بن علي الأصغر زین العابدین بن الحسین بن علي بن أبی طالب، سره میلاو شو ، أبو جعفر چا شکي کړی ؤ چه أبو حنیفه په قیاس فیصلې کوي او أحادیث یې پریښي، نو أبو جعفر پوښتنه وکړه: تاولې زما دنیکه رسول الله صلی الله علیه وسلم أحادیث پریښي او فیصلې په قیاس کوې؟ امام صاحب ورته وویل: الله د ما ددغه شان کار نه وساتې داسې کار زه نه کوم، خو کله چه أبو جعفر نه قانع کیدو نو أبو حنیفه ورځخه دریې پوښتنې وکړې ورته یې وویل: ۱- سړی کمزوری دی که ښځه؟ ابو جعفر وویل: ښځه نو ابو حنیفه ورته وویل: دسړي څومره حق دی په میراث کې ستا دنیکه د دین مطابق او د ښځې څومره دی؟ نو ابو جعفر وویل: د ښځې برخه د سړي دبرخې په نیمه ده، نو أبو حنیفه ورته وویل چه په همدې ما هم فیصله کړې، که خبره دعقل او قیاس وی نو ما به ښځې ته پوره برخه ورکړې وی ځکه چه کمزوري ده، خو نه دا د دین فیصله ده. بله پوښتنه کې ورته وویل: ستا دنیکه په دین کې لمونځ ډیر بهتر دی که روژه؟ ابو جعفر وویل: لمونځ، بیا یې ورته وویل، چه ښځه د حیض په دوران کې لمونځ او روژه دواړه قضا کړي د کوم یو قضایې به راګرځوي؟ ابو جعفر وویل: د روژې، نو ابو حنیفه ورته وویل چه همدا زمونږ فیصله ده ستا دنیکه ددین نه مو راخیستې که مو په عقل فیصله کوله نو دلمونځ قضایې به مو لازمې کړې وی ځکه چه دروژې ځخه بهتر دی دریمه پوښتنه کې ورته وویل: چه بولې (میتیازې) ډیرې ګنده دي او که مني؟ ابو جعفر ورته وویل چه میتیازې، بیا یې ورته وویل چه ستا دنیکه په دین کې د میتیازو په وتو اودس لازمي کیږي او دمني په وتو غسل، که مونږ په عقل او قیاس فیصله کوله نو په مني به مو اودس کړی ؤ او په میتیازو غسل، خو نه داسې هیڅکله هم نه کوو ، ددې پوښتنو وروسته أبو جعفر قانع شو او خوشحاله شو او د أبو حنیفه اکرام یې وکړ.

خو ددې معنی دا نه ده چه أبو حنیفه صاحب بالکل قیاس نه دی کړی، بلکه هغه مسایل چه ده ته په کې صحیح حدیث ندې رسیدلی هغې کې یې قیاس کړی او دا په هغه صورت کې چه دصحابې فتوا یې هم نه وې موندلې، او قیاس دهغې زمانې ټولو مجتهدینو ځلور مشهورو امامانو او ټولو غټو علماؤ کړی. دا نه چه صرف امام أبو حنیفه کړی.

- شیخ أحمد مختار رمزی چه دشام یو عالم دی په خپل کتاب سیر أعلام المحدثین کې د امام أبو حنیفه د حدیثی مروياتو تعداد دسنتو په مصادرو کې هریو نه ځانته ځانته ذکر کړی، چه ټول راجمع کړو نو ۸۴۹ أحادیثو ته رسیږي. (سیر أعلام المحدثین (ص/۶۰۳)
- چه دغه عدد د امام مالک دموطأ داحادیثو څخه زیات دی ځکه چه په موطأ کې مرفوع أحادیث خوا اوشا ۲۰۰ ته رسیږي.
- د امام صاحب نه ۱۷ مسانید روایت شوي او هر یو مسند کې کافي حد ته أحادیث روایت شوي، خو چه کوم مسند ترنن ورځې پورې زمونږ سره په ډیر ښه ترتیب کې موجود دی، هغه په مسند

الحارثي مشهور دی چه قاضي حصكفي مختصر کړی او تقریباً ۵۲۴ أحادیث پکې موجود دي، او ددې مسند فقهي ترتیب او شرح ډیرو علماؤ کړې ده چه په هغې کې امام علي قاري امام سندي امام سنبهلي او داسې نورو.

او د امام صاحب نه روایت شوي مسانید په کې ټول راجمع شوي هغه دخوارزمي مسند دی چه په حیدر آباد دکن کې سل کاله مخکې ۱۳۳۲ه کې چاپ شوی چه دوه غټ غټ جلدونه لري.

نو فلهذا امام صاحب یو ښه محدث ؤ او د اوسه پورې علماء دامام صاحب په أقوالو دعلوم الحدیث او جرحې اوتعدیل په مختلفو مسلو کې استدلال کوي.

✓ او داچه دجرحې او تعدیل د رومبنیو علماؤ څخه دی، نو ددې فن په کتابونو کې ګورو چه امام صاحب د عطاء بن ابي رباح باره کې فرمایې: ما رأیت اوثق منه، خو د جابر الجعفي باره کې بیا وایې: ما رأیت اکذب منه معجم الفاظ الجرح والتعدیل لسید عبد الماجد الغوري(ص/۱۲)

✓ دریمه نقطه: د امام ابوحنیفه رحمه الله باره کې تعدیل او توثیق

د امام صاحب باره کې توثیق او تعدیل ډیرو علماؤ کړی او دمختلفو طبقو علماؤ کړی، او دغه تعدیل او توثیق په پوره وضاحت سره په لاندې ترتیب ذکر کوم:

۱- دجرح او تعدیل د فن د متقدمینو محقیقینو أقوال

۲- دمتأخرینو محقیقینو أقوال

۳- د معاصرینو شیوخو أقوال

أول: د متقدمینو أقوال:

(امام ابن معین فرمایلی: کان أبو حنیفه ثقة لایحدث الا بمایحفظه..) سیر أعلام النبلاء للذهبي (۶/۳۹۵).

(امام أبو یوسف فرمایلي: ما رأیت أحدا أعلم بتفسیر الحدیث من أبي حنیفة) تاریخ بغداد(۱۳/۳۴۰) ۹ (۱۳/۳۴۲) ۱۰(۱۳/۳۴۵)

(امام ابن المبارک فرمایلي: کان أبو حنیفة أفقه الناس۹) (امام شافعي فرمایلي: الناس فی الفقه عیال علی أبی حنیفة۱۰) (امام علي بن عاصم فرمایلي: لو وزن علم أبي حنیفة بعلم أهل زمانه لرجح علیهم) الفقیه والمتفقه(۲/۷۳)

(امام سفیان الثوري فرمایلي: کان أبوحنیفة أفقه أهل الأرض في زمانه) سیر أعلام المحدثین(ص/۶۲۵)

(امام یحیی بن سعید القطان فرمایلي: والله ماسمعنا بأحسن من رأي أبي حنیفة وقد أخذنا بأکثر أقواله) سیر أعلام المحدثین(ص/۶۲۵)

(امام أبو داود فرمایلي: کان اماما) تذکرة الحفاظ(۱/۱۲۷)

(امام عبد الرحمن بن مهدي فرمایلي: کان أبو حنیفة قاضي قضاة العلماء) سیر أعلام المحدثین(ص/۶۲۵) ۱۴(ص/۶۲۳)

(أبو عمرو بن العلاء فرمایلي: العلم علم أبي حنیفة ومانحن فیه أیسر۱۴)

دوهم: د متأخرینو أقوال

(امام ابن كثير فرمايلي: الامام أبو حنيفة فقيه العراق وأحد أئمة الإسلام، والسادة الأعلام، وأحد أركان العلماء) البداية والنهاية (١٠/١١٠)

(امام ابن العماد فرمايلي: كان من أذكياء بني آدم) شذرات الذهب (١/٢٢٨)

(امام ذهبي په تذكرة حفاظ الحديث کې ذکر کړی او فرمايلي دي: كان فقيه الملة وعالم العراق إماما ورعا عالما عاملا متعبدا كبير الشأن) تذكرة الحفاظ(١/١٢٧)

(امام ابن حجر فرمايلي: امام وفقيه مشهور) تقريب التهذيب(٢/٥٦٣)

(امام سيوطي په طبقات الحفاظ کې ذکر کړی) طبقات الحفاظ(ص/٢٧)

✓ **دريم: د معاصرينو أقوال**

معاصرين د حديثو د باب ماهرين على اختلاف مذاهبهم د امام صاحب د توثيق په حق کې دي، او دا څکه چه هر عالم د امام صاحب باره کې هر اړخيزه مطالعه وکړي اخر همدې نتيجې ته رسيږي.

چه امام صاحب اوثق الثقات دی. د امام صاحب د توثيق او تثبت په حق کې د معاصرو شيوخو نه دا لاندې يوځو علماء ذکر کوم:

الشيخ مصطفى سباعي/ الشيخ أبو زهرة/ الشيخ عبد الفتاح أبو غدة/ الشيخ شعيب الأرنووط/ الشيخ أحمد مختار رمزي/ الشيخ ابن عثيمين/ الشيخ ابن باز/ الدكتور وهبه الزحيلي.

✓ **د پورتنيو أقوالو وضاحت**

لکه څرنګه چه معاصر شيوخ د امام صاحب باره کې دې نتيجې ته رسيدلي چه امام صاحب ثقه دی او همدا د پورتنيو اقوالو نچوړ دی، اګرچه عمومي نظر دغې اقوالو ته وشي او همدارنګه د امام صاحب روايات په نظر کې ونيول شي او د امام صاحب فضيلت ته نظر وشي نو دا ثابتيږي چه امام صاحب ډير ثقه او بلکه د ثقاتو په سر کې دی.

خو ثقه څه ته وايي؟

د محدثينو په نزد (ثقه) د توثيق د ألفاظو يوه مرتبه ده هغه چا ته يې استعمال کيږي چه د هغه عدالت او ضبط پوره وي. د عدالت باره کې علماء وايي چه دا يو داسې ملکه ده چه انسان ته تقوى او مروءت ورکوي. تقوى ځان ساتل دي د هر مذموم شرعي نه، او مروءت ځان ساتل دي د هر مذموم عرفي نه او ضبط د راوي حفظ ته وايي چه يا يې خپل أحاديث په کتاب کې ساتلي وي او يا په سينه کې. نو کله چه امام صاحب ثقه راوي شو مطلب دا چه هم يې عدالت پوره دی او هم ضبط.

✓ **څلورمه نقطه: د امام ابو حنيفه رحمه الله باره کې جرحه**

بعضې علماؤ په امام صاحب جرحه کړې چه د هغوی دجملې نه: امام بخاري په خپل کتاب التاريخ الكبير کې فرمايي: كان أبو حنيفة مرجئا سكتوا عنه التاريخ الكبير(٨/٨١)

امام نسائي په خپل کتاب الضعفاء والمتروكين کې فرمايي: ليس بالقوي في الحديث الضعفاء والمتروكين(ص/٢٣٣)

همدغه نظر د امام عقيلي او امام ابن عدي دی، امام ابن حبان په خپل کتاب المجروحين کې او په بعضې نورو کتابونو کې ليکلي: لم يكن الحديث

صناعته وكان يقول بالارجاء... المجروحين(٢/٣٢١)

امام خطیب بغدادي هم دیته ورته جرحه کړې او هم يې متهم کړی په قلة الروایة باندې. تاریخ الخطیب (١٣/٤٤٤)

امام ابن خلدون هم په خپله مقدمه کې لیکلې چه یقال: بلغت روایته سبعة عشر حدیثا.

✓ پینځمه نقطه: د جرح او تعدیل د تعارض دضوابطو په رنا کې د تعارض ختمول

کله چه مونږ دامام صاحب باره کې توثیق ولیده او بیا دهغې نه وروسته مو نظر دجارحینو په جرحه ولګیده نو اوس پکار ده چه دغه تعارض ته دجرح او تعدیل د قواعدو په رنا کې وګورو. نو دا به په لاندې شکل وي:

اول: د جرح او تعدیل علماء فرمایي: کله چه د یوه راوي باره کې جرحه او تعدیل دواړه ثابت شي نو دتعارض دختمولو په خاطر تعدیل په هرصورت کې په مجمله جرحې مقدم وي.

نو که مونږ ددې قاعدې په رنا کې وګورو دامام صاحب باره کې جرحه ټوله مجمله ده مفسره نه ده، نو فلهذا تعدیل پرې مقدم دی، نو ثابت شوه چه امام صاحب ثقه دی.

دوهم: د جرح او تعدیل علماؤ په نزد توثیق او تعدیل په درې څیزونو ثابتیږي او هغه:

١- په علم کې شهرت ٢- د جرح او تعدیل دعلماؤ توثیق ٣- د ثقاتو روایت.

اوس که امام صاحب ته وګورو هم په علم کې شهرت لري او هم په سلهاؤ علماؤ دهغه توثیق کړی چه دهغې جملې نه ما یو څو أقوال صرف ذکر کړي، او هم ورنه ثقاتو لکه محمد بن الحسن او ابن المبارک او أبو یوسف او داسې نورو روایت کړی. نو فلهذا دامام صاحب توثیق په دې قاعده ثابت دی.

دریم: د جرح او تعدیل دعلماؤ په نزد جرحه نه قبلیږي په باره دهغه چا کې چه دهغه په علم کې شهرت او امامت ثابت وي. نو کله چه امام صاحب په علم کې غټ شهرت حاصل کړی او امامت یې ثابت دی، نو دده باره کې دجارحینو جرحې ته اعتبار نشته او که دې جرحې ته اعتبار شي نو بیا به دابن حزم حکم په امام ترمذي باندې منو چه وایي مجهول دی، او او دابن أبي ذئب به په امام مالک باندې منو چه وایي ضعیف دی. او داسې د نورو سترو عالمانو باره کې بعضې نورو کومه جرحه کړې خو دې قاعدې په رنا کې اعتبار ورته نشته.

څلورم: د جرح او تعدیل علماؤ په نزد جرح په درې جوانبو کیږي: یا په عدالت دراوي یا په ضبط دراوي او یا داچه راوي نه به روایت دومره لږ شوی وي چه هغه لږ روایت په وجه مجهول وي.

نو که مونږ وګورو دامام صاحب عدالت په اتفاق ثابت دی. او د ضبط باره کې ورته ابن العماد اذکی بني آدم وایي، او ابن معین وایي چه: لا یحدث الا بما یحفظ. او روایت خو دامام صاحب نه دومره شوی چه د هغه وخت دمحدثینو نه په کې کم ندي او مخکې یې ما پوره وضاحت کړی. نو ددې قاعدې په رنا کې دامام صاحب باره کې جرحه غیر معتمده

ده او تعديل أصل دی. ضوابط الجرح والتعديل للدكتور عبد العزيز محمد بن ابراهيم العبد اللطيف.

✓ شپږمه نقطه: د امام صاحب باره کې

دجرحې اساسي عوامل:

اول: دامام بخاري جرحه

امام بخاري په امام صاحب جرح په خپل کتاب التاريخ الكبير کې کړې، چه دغه کتاب امام بخاري په ۱۸ کلنۍ کې په مدينه منوره کې وليکه، چه په دغه وخت کې عامه وضعه په مدينه کې داهل الرأي او اهل الحديث ترمينځه اختلاف ؤ. له بله طرفه په دغه وخت کې امام بخاري مجتهد نه ؤ او دامام شافعي دمذهب تابع ؤ او همدارنګه دامام حميدي سره يې ناسته پاسته وه چه هغه داحنافو سره سخت مخالف ؤ، او دامام بخاري په قول امام صاحب مرجئي ؤ، او دا بيوه غټه جرحه ده ځکه چه دغه فرقه خو ګمراه فرقه وه.

خو حقيقت دا دی چه امام صاحب هيڅکله هم ددغې فرقې په عقيده نه ؤ، دې فرقې خو به ويلی: چه لاتضر مع الايمان معصية ولاتنفع مع الكفر طاعة

أيا چه څوک دامام صاحب نه ډير لږ هم خبر وي دا ويلي شي چه دهغه په نزد لا تضر مع الايمان معصية؟؟؟؟؟؟؟؟؟

خو البته مشکل چه په کوم ځای کې ؤ نو هغه دا ؤ چه دامام صاحب په وخت کې معتزله خواره ؤ او هغوی عمل دومره په ايمان کې داخل کړی ؤ چه مرتکب دګناه کبيرې به بې جهنمي ګڼلو او ويلې به بې چه خالد مخلد به وي په جهنم کې او هغوی ددې ايات مخالفت کولو چه الله فرمايي: (ان الله لايغفر أن يشرک به ويغفر مادون ذلک لمن يشاء) نو امام صاحب په هغوی باندی رد وکړ او د ايمان تعريف يې داسې وکړ چه: اقرار باللسان وتصديق بالقلب عمل يې په کې داخل نه کړ. نو کله چه بيا دامام شافعي زمانه وه هلته مرجئه پيدا شو او هغوی عمل ته هيڅ اهميت نه ورکولو ويل به يې چه: لا تضر مع الايمان معصية ولاتنفع مع الكفر طاعة نو امام شافعي دهغوی جواب دايمان په تعريف کې وکړو ويې فرمايل چه: الايمان اقرار باللسان وتصديق بالقلب وعمل بالجوارح.

نو په دغه وخت کې له يوه طرفه امام بخاري دامام شافعي په مذهب ؤ او له بله طرفه امام بخاري د مرجئه فرقې په زمانه کې ؤ، نو د امام صاحب تعريف ورته ددغې فرقې دفکر سره برابر ښکاريده حال داچه دامام صاحب په زمانه کې دا فرقه نه وه، او ددې نه علاوه امام بخاري دحميدي سره ناست ولاړ ؤ چه هغه هم داحنافو سخت مخالف ؤ د مکتب فکر او منهج په وجه، نو دا څه وجوهات ؤ چه ددې په بنا امام بخاري ديته اړ شو چه په امام صاحب دغه حکم ولګوي، خو دا خبره پته پاتې نشوه او تاريخ ثابته کړه چه امام صاحب مرجئي نه ؤ.

او داچه بخاري او مسلم دامام أبو حنيفه احاديث په خپلو کتابونو کې نه دي روايت کړې، دا صرف دامام أبو حنيفه سره داکار ندي شوي، هغوی خو دامام شافعي هم يو حديث ندی روايت کړی، او بخاري چه دامام أحمد سره شاګرد هم پاتې شوی خو په خپل صحيح کې يې دهغه دوه حديثونه صرف روايت کړې. امام مسلم دبخاري نو يو حديث هم

ندی روایت کړی سره ددی چه مسلم یې ډیره موده شاګرد ؤ. نو کله چه داسې ده ددې معنی دا نده چه دغه امامان چه شیخینو ترې روایت ندې کړی خدای مکه ضعفاء دي، او یا دا چه که شیخین چرته دضعفاؤ نه روایت وکړي نو دوی به هم ضعفاء شي، امام ابن حجر په هدي الساري کې او سیوطي په تدریب الراوي کې فرمایلي: چه یوازې امام بخاري په خپل صحیح کې د ۸۱ مبتدعینو څخه روایت کړی.

دوهم: د امام نسایی او ابن عدي او عقیلي او ابن حبان جرحه:

تقریباً دغه پورتني علماء د امام صاحب په جرحه کې دامام بخاري مقلدین دي، او بله دا چه امام نسائي که جرحه هم کړي خو دامام صاحب نه یې په خپلو سننو کې روایت هم کړی او جرحه یې هم مجمله ده. همدارنګه د عقیلي او ابن عدي جرحه مجمله ده او ابن حبان د جرح او تعدیل دعلماؤ په نزد په جرح کې متشدد دی او په تعدیل کې متساهل دی لکه دعقیلی او ابن عدي په څیر نو له دی کبله دهغه جرحه او تعدیل د دې فن د ماهرینو په نزد اعتبار نه لري.

دریم: دخطیب بغدادي جرحه:

دده جرحه کې امام صاحب ته د لږ روایت نسبت شوی، خو بیا هم علماء فرمایې چه بغدادي رحمه الله شافعي مذهبه ؤ او خپل مذهب نه یې سخته دفاع کوله او له بله پلوه یې په احنافو او حنابله علماؤ سختي نیوکې کولې. او که نه حقیقت خو دادي چه دامام صاحب احادیث ډیر زیات ؤ.

امام ابو زهره رحمه الله دامام صاحب په توثیق کې ډیر اوږد تفصیل کړی چه یوه خبره یې داهم کړې: کان أبو حنیفة له من قوة الشخصیة ما وجه به الفقه توجیهًا جاوز حلقة درسه؛ بل تجاوز إقلیمه إلی غیره من الأقالیم الإسلامیة، فتحدث الناس بآرائه في أکثر نواحي الدولة الإسلامیة وتلقاها المخالف والموافق، فاستنکرها المخالف، وناصرها الموافق.

څلورم: دامام ابن خلدون نقل په قلة الروایة کې چه امام صاحب ټول ۱۷ حدیثونه روایت کړي.

اوله خو دا چه ابن خلدون دغه نقل په (یقال) دتمریض په صیغه کړی، نو ډیر مضبوط نه دی، بله داچه ابن خلدون دد غې روایت نه وروسته تعلیق داسې کړی: وقد تقوّل بعض المبغضین الی ان منهم من کان قلیل البضاعة فی الحدیث فلهذا قلت روایته، ولا سبیل الی هذا المعتقد فی کبار الأئمة نو ابن خلدون رحمه الله په خپله ددغې نقل سره موافق نه دی.

او بله داچه د ابن خلدون د نقل منشأ کیدای شي داوي چه دامام صاحب نه خو ټول ۱۷ مسانید روایت شوي دي نو ناقل په دې غلط فهمی کې واقع شوی چه که دا چیرته ۱۷ احادیث دي.

او کیدای شي منشأ یې داوي چه امام محمد بن الحسن په موطأ کې دامام صاحب نه ۱۷ حدیثونه روایت کړي او هغه یې دامام مالک أحادیثو ته ور اضافه کړي، نوداهم ممکنه ده چه ناقل په دې غلط فهمی کې واقع وي، چه دامام صاحب همدغه ۱۷ أحادیث دي او نور نشته

خو پته دې پاتې نه وي چه امام صاحب په روايت دحديثو کې ډير زيات احتياط کولو ، ځکه چه په هغه وخت کې په کوفه کې ګمراه فرقې ډيرې وې او احاديث به يې وضع کول، نوله دې کبله امام صاحب دهر چانه حديث نه أخستو او دا يوه وجه هم وه چه هغه ګمراه فرقو والا چه په سر کې يې شيعه دي هغوی په امام صاحب تور ولګاوه چه دا حديث پريږدي او روايت يې لږ دی او دمسلو په حل کې قياس استعمالوي ، خو مخکې مونږ دابو جعفر سره دامام صاحب قصه ذکر کړې، چه شيعه فرقې دغه خبر حتی مدينې ته ورسولو او ترهغې چه تحقيق ته خبر رسيده نو په امام صاحب ډيرو علماؤ عجيبه عجيبه حکمونه ولګول

خو الحمد لله په اخره کې حقيقت ثابت شو ، او محقيقينو علماؤ لکه ذهبي او ابن حجر

دا ثابت کړه چه امام صاحب اوثق الناس دی.

✓ اومه نقطه: د پورتني تحقيق نه وروسته ، د حديثو په ميدان کې دامام صاحب حکم

کله چه دامام صاحب باره کې توثيق د کبار العلماء نه ثابت شو او دا هم ثابت شوه چه امام صاحب کې دعدالت ټول شروط په غټه کچه برابر دي، او کله چه دا برابر شي نو بيا د دغسې عالم باره کې جرحه غير معتبره وي، او داهم ثابت شوه چه دامام صاحب باره کې جرحه مجمله ده او د مفسر تعديل په وړاندې دعلماؤ په نزد غير مقبوله ده، نو بيا په آخره کې دا ويلی شو چه امام صاحب يو ښه ثقه محدث ؤ ډير احاديث يې روايت کړي ؤ چه دهغه وخت دمحدثينو نه يې روايت کم نه دی، او دعلماؤ په اتفاق مجتهد ؤ ، همدارنګه د ټولو په نزد دزهد او تقوی يوه نمونه وه ، او حافظه خو يې دومره مضبوطه وه چه امام ابن العماد ورته د اذکياء بني آدم لقب ورکړی.

✓ **اتمه نقطه**: په امام صاحب باندې د اوسنی زماني جارحينو ته زما توصيه

د علماؤ احترام وکړئ ځکه چه هغوی زمونږ او درسول الله صلی الله ترمنځ واسطه ده، اوبيا چه يو عالم د سترو علماؤ او مجتهدينو څخه وي تابعي وي د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ملګرو سره يې ناسته پاسته کړې وي، په اتفاق دعلماؤ تقي او متورع او دالله ولي انسان وي په کروړونو اتباع لري، نو دد سې عالم سره ډيره ګذاره پکار ده، ددوی تکليفولو باندې هم الله خپه کيږي، او هم دغه په کروړونو مسلمانان، په حديث قدسي کې راغلي چه الله فرمايي: من آذى لي وليا فقد آذنته بالحرب او بله دا چه په علماؤ او اهل الخير باندې غلط ظن هم ندی پکار ځکه چه (ان بعض الظن اثم) که امام صاحب د حديثو ستر عالم نه وی نو دومره غټ تعداد کې سترو محدثينو لکه محمد بن الحسن الشيباني امام أبو يوسف امام أبو جعفر الطحاوي امام بدر الدين عيني امام علي القاري او په زرګونو نور علماؤ به څانته بل امام اختيار کړی وی او د امام صاحب دمنهج نه به تير شوي وی.

وصلى الله على محمد وعلى آله وصحبه أجمعين

نامتو مسلمان فاتحين

د هرات او بلخ فاتح او نامتو تابعي حضرت احنف بن قيس رحمه الله

دوهمه برخه

مفتي حبيب الله قاسمي
د اسلام دتاريخ پيښو خيړونکی او ديني علومو مدرس

يادونه : په نېره ګڼه کې مو د کابل فاتح او نامتو صحابي حضرت عبدالرحمن بن سمره رضی الله پېژندنه ولوستله، اوس غواړو د هرات او بلخ فاتح او نامتو تابعي حضرت احنف بن قيس رحمه الله پېژندنه درته وړاندې کړو، دغه نامتو تابعي د حضرت عمر رضی الله د خلافت په نېکمرغه او سپېڅلي دوره کې د اسلام بلنه زمور هېواد تر جنوبي سيمو پورې د لومړی ځل له پاره راورسوله. ده وروسته هم په خراسان کې زياتره فتوحات د نامتو صحابي او د بصري د والي حضرت عبدالله بن عامر رضی الله عنه تر څارنې لاندې تر سره کړل او په خراسان کې يوځه وخت دهغه ځای ناستی هم پاتې شوی دی، ډير ځير ک او د سياسي تدبير خاوند و.

[۱] حضرت احنف بن قيس رحمه الله د اسلام په تاريخ کې څه دول وځليده ؟

د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت لومړۍ شپې ورځې وې، د بنو تميم قبيلې زړه ور اواو تجربه لرونکي ځوان غازيان د عرب جزيرې د ((احساء)) او ((نجد)) تر منځ پر تو سيمو څخه ډلې ډلې په بنکليو اوځغاستونکو آسانو سپاره روان وو، تيرې او پر کيدونکي تورې يې پر اوږو ځوړندوې دوی غوښتل په ((بصره)) کې د فارس له لښکر سره د عتبة بن غزوان رضی الله عنه تر مشرۍ لاندې جنګيدونکي اسلامي لښکر سره يوځای شي، په همدې ځوانانو کې يوهم زمور حضرت احنف رح هم و

جګړه لاهم روانه وه دغه ځوانان له اسلامي لښکر سره يوځای شول، يوه ورځ د جګړې نامتو قوماندان حضرت عتبه بن غزوان رضی الله عنه ته د حضرت عمر رضی الله عنه يو تازه فرمان راغی چې متن يې داسې و : ((ماته د خپل لښکر لس

تکړه، هوښیار او دښه زړه خاوندان مجاهدین را واستاوه چې زه تري د جنګ د لومړیو لیکو حال واخلم او له ماسره چې کومې ښې مشورې دي هغه هم له دوی سره شریکې کړم)

حضرت عتبه رضی الله عنه له لاړ ښوونې سره سم لس تنه تکړه او ځیرک مجاهدین په نښه کړل او بیایې مدینې منورې ته د حضرت عمر رضی الله عنه د لېدنې له پاره واستاول، په دې لسو مجاهدینو کې یو هم حضرت احنف رحمه الله هم و.

دغه پلاوی چې حضرت عمر رضی الله عنه ته ورغی، هغه یې تود هر کلی وکړ او له خواسره کښېنول، بیایې له دوی څخه د خپلو او دغه راز د ولس د راتیاوو په اړه پوښتنې وکړې، ټول پلاوي په یوه خوله داخبره ورته وکړه چې: د ولس په راتیاوو خو تاسو ښه پوهیږئ څکه مسولیت یې تاسو ته درپه غاړه دی؛ خو مور به درته خپلې راتیاوې وراندې کړو، بیا هریوه په خپل وار خپلې راتیاوې وښودلې.

حضرت احنف رح د ټولو په پای کې خپلې خبرې څکه وکړې چې تر ټولو کشر و، نومورې په خبرو کې د الله پاک له ستاینې او لوړینې بیانولو وروسته وویل:

((ای امیر المومنینه! مصر ته چې د مسلمانانو کوم لښکر ولاړ هغوی ته بخملي صحراوي، شنې اوښایسته څمکې ورسېدلې او د فرعون د ننګې مانې یې لاس ته ورغلې. دغه راز هغه مسلمانان چې شام ته ولاړل هغوی ته هم د رومي امپراطورۍ ننګې مانې په لاس ورغلې او اوس یې هم په ډیره خوښۍ شپې ورځې سبا کوي. دغه ځیر هغو مجاهدینو چې د ایران او فارس لور ته مخه وکړه هغوی هم ستر دریابونه، شنه باغونه په برخه شول او دامهال د فارس د واکمنو له دنګو مانیو خوندونه اخلي. خو دایواځې زمور قام دی چې د بصرې وچه، ښوره اوشکلنه دښته یې په برخه رسېدلې ده چې نه شین بوټي اونه هم اوبه لري. تل سپیره وي، یوه لور ته یې د تر خو مالګینو اوبو سمندر بهیږي اوبل لور ته یې وچه اوسپیره شګلنه دښته پرته ده.

ډیر قدر من امیر المومنین! ستاسو درانه خدمت ته په ډیر درنښت دایو وړاندیز کووچې: زمور د قام د خلکو غم وخوړه، د هغوی ژوند سینګار کړه داسې چې: تاسو د بصرې والي ته لاړ شوونه وکړئ چې زمور قام ته د خوړو اوبو یوه لویه ویاله (نهر) وباسي څو زمور خلک له خوړو اوبو لګته واخلي، او د دوی ژوي او کښتونه تري خړوبه شي، چې په دې سره به د هغوی اقتصادي حالت ښه شي او بې وزلي به یې هم له منځه ولاړه شي اودهرڅه پریماني به شي او د خوراکي توکو بیې به را ولوېږي او تر ټولو ستره ګټه به یې داشي چې دوی به د الله پاک په لاره کې جهاد کولو له مخکې نور هم ښه چمتو شي))

ددې ځوان خبرې حضرت عمر رضی الله عنه ډیرې ښې ولګیدلې او خوندیې ور کړه اوځوان ته یې وویل: داځومره ښکلي او ګټورې خبرې دې وکړې؟ په خدای قسم ته خو دخپل قام مشر ښکاري.

له دې وروسته امیر المومنین پلاوي ته ډالۍ ور کړې او کله یې چې احنف رح ډالۍ وراندې کړه نومورې په درنښت سره امیر المومنین ته یوور اندیز داسې وکړ:

((ای امیر المومنینه! مور ستره بیدیا او وچه دښته یواځې ددې له پاره نه پل کوله چې یوازې ډالۍ ترلاسه کړو، څکه زه ور سره ډیره لیوالیتا نه لرم؛ بلکې له مور سره یواځې د خپل قام د ناوړه حالت اندښنه ده، که چیرته زمور د قام ستونزه اواره کړئ؛ نوهغه زمور ستره موخه ده او مور ته تر ټولو ستره او ارزښناکه ډالۍ ده.))

ددې خبرو په اوربدو دامیر المومنین رح نور هم ددې ځوان ځیر کتیا ته زیات په تعجب کې شو اوبیایې ووېل: ((ددې ځوان خبرې د ټولې بصرې د مشر توب استازیتوب کوي او په نومورې کې د مشر توب نښې ښکاري)).

داد حضرت احنف رح له حضرت عمر رضی الله عنه سره لومړنی لیدنه کتنه وه. کله چې مجلس پای ته ورسیده: نود پلاوي ټول غړي خپلو سپارلیو لور ته روان شول، غوښتل یې چې شپه دخپلو سپارلیو ترځنګ تېره کړي او سبا روان شي، له دې وروسته حضرت عمر رضی الله د دوی بارونو ته هم له نظره تیر کړل، یوه پنډۍ یې ولیده چې دقیمتي جامې پیښه ترې راوتلې وه پوښته یې وکړه: دا جامې د چا دي؟

احنف: امیر المومنین! زما دي.

عمر رضی الله عنه: په څو دې پیرلې دي؟

احنف رح: په اته درهمه.

عمر رضی الله عنه: ((یوه جوړه دې بس نه وه؟ کاشکې ددې بلې جامې روپۍ دې دبل مسلمان په اړتیا کې نه شوای لګولای؟. تاسو پرپوښاک دومره لګښت کوئ څومره ته مو چې اړتیا وي. او اضافي پانګه په داسې څه ولګوئ چې هغه ته موډیره اړتیا وي: نو په دې کار سره به مو تل خوښي په برخه شي او ټولینز ژوند به مو ښیرازه شي)).

ددې لارښوونه پرمهال حضرت احنف بنکته کتل و اودا ګټورې خبرې په ډیر پام سره واوریدلې. له دې ورسته حضرت عمر رضی الله عنه دغه پلاوي رخصت کړ اویواځې حضرت احنف رحمه الله له پلاوي راجلا کړ اوښپړیو کال یې له ځان سره وساته. ددې پوښتنې ځواب به وروسته خبرې وکړو چې ولې یې نومورې له پلاوي راجلا کړ؟ اوس به لومړی داحنف رح پیژندنه وراندې کړو.

[۲] د حضرت احنف رحمه الله پیژندنه

